با تشکر از جریده «امید»

آرامش بعد از توفان

حامد علمي

سومین باری بود که به ولایت کنر میرفتم. و هنوز خاطره های دلخراش سفر اول خویش را به یاد دارم. آن سفر در سال ۱۹۹۰ میلادي زماني بود که در شهر اسعد آباد مرکز ولایت کنر انفجاري در صبح روز به وقوع پیوسته و به مجرد رسیدن خبر انفجار عظیم و کشته شدن صدها نفر با چندین تن از ژورنالیستان پاکستانی از پشاور راهي کنر شدیم وبعد از سپری نمودن یك شب در راه صبح روز بعد به اسعد آباد رسیدیم.

از حادثه انفجار حدودسي ساعت مي گذشت و هنوز دود غلیظ فضای شهرك راپوشانیده و از چند جسد زغاله شده انسان ها دود بلند می شد.

مسؤلین ولایت کنر و تنظیم های مقیم پشاور حادثه را در اثر اصابت راکت اسکاد یکه از کابل شلیك شده بود می دانستند و داکتر محمدحسن شرق معاون سابق صدراعظم در کتاب خاطراتش «کرباس پوشهان برهنه پا» نیز به این باور است. ولی من که شاهد اصابت راکت اسکاد در شهر خوست بوده ام نمي توانستم باور کنم که فاجعه ناشی از اصابت راکت باشد. جریان ماجرا را به رادیوی بی بی سی گزارش دادم ولی از اصابت راکت اسکاد ذکری ننمودم و درین باره اظهار شك و تردید نمودم. از هنر ژورنالستیکي کار گرفتم و به نقل قول مستقیم اکتفا کردم.

اگر چی بعد از نشر شدن مصاحبه چند گروه جهادي بمن اخطار دادند که بایداسم راکت اسکاد رامي بردم و می گفتم که این راکت توسط حکومت کابل از مرکز شلیك شده است و این حکومت دست نشانده شوروی هاست که به چنین اعمال دست میزنند: ولی من ایستادگی نموده و به سادگی زیر بار نرفتم. با وجودیکه من از مخالفین حکومت کابل بوده و در جهاد مسلحانه علیه آن حکومت سهم زیاد گرفته بودم، ولی صداقت ژورنالیستی ام بمن اجازه چنان حکم را نمی داد و ادعا میکردم که بمن ثابت نشده که راکت شلیك شده اسکاد و از کابل پرتاب شده باشد.

چون یگانه نامه نگار افغان بودم که از محل حادثه به پشاور بر گشته بودم، بنأ گزارشها و مصاحبه های من در چند رادیو به نشر رسید. در دفتر کارم نشسته بودم که تلفون زنگ زد و شخصي بنام مستعار به لسان پشتو بمن گفت «آقاي پيتر تامپس سفیر و نماینده حکومت ایالت متحده امریکا نزد مجاهدین افغان میخواهد با شما صحبت کند و او آرزو دارد جزئیات انفجار کنر را از خودت بپرسد» از شخص پیترتامپس بخاطر حمایت کور کورانه اش از جنگ جلال آباد در آستانه خروج نیروهای شوروی از افغانستان، خوشم نمی آید. در جواب گفتم: «چیزی تازه برای گفتن ندارم، سفیر امریکا میتواند با بخش دري یا پشتوی صدای امریکا در تماس شده و مصاحبه های طولاني را که با آنها انجا داده ام بشنود وبرای شما که ادعا دارید در واشنگتن هستید اینکار مشکل نیست، و مسئله دیگر اینکه تلفون من همواره از طرف مقامات امنیتی پاکستان شنیده و بعضاً ضبط میگردد. بنأ نمی خواهم به اتهام ارتباط با سفیر امریکا موردتعقیب و باز پرسی قرار گریم.

شخص طرف مقابل خندید و گفت:«سفیر امریکا فقط میخواهد بداند که آیا پارچه های از راکت اسکاد در محل حادثه وجود داشت و اگر داشت از مسؤلین ولایت کنر خواسته شود تا پارچه های راکت را برای محکوم کردن حکومت کابل و اثبات ادعای شان نگهدارند» من در جواب گفتم: «اگر وجود میداشت حتماً حکم میکردم که راکت اصابت نموده است ولی هیچ گونه نشانه و بقایای از راکت در محل حادثه دیده نمی شود و به این ترتیب نمی توانم حکم کنم که راکت اصابت کرده است.»

چنان گزارش در آنزمان برای عده ای از گروهای مجاهدین گزارش غیر واقع بینانه تلقي میشد ولی امروز ثابت شده که راکت نه بلکه انفجار ناشی از تخریب کاری یکعده افراد آشکو بکر بود، طوریکه آنها مواد انفجاری را در زیر خانه یکی از دکان های اسلحه فروشي جابجا کرده و در فرصت مساعد آنرا انفجار دادند و فاجعه آفریدند.

سفر دوم من به ولایت کنر همراه با تیم اداره مشاوران تخنیکی افغان بود که مشغول پاکسازی ماین ها در آن ولایت بودند و من برای تهیه گزارش به آنجا رفته بودم و چار شب ماندم و دریکي از باغهای مشهور کنرها یعنی سالار باغ اقامت داشتم و آن زماني بود که بعد از یك درگیری نسبتاً شدید تمامی ولایت کنر به تصرف نیروهای گروه جماعت الدعوت در آمده و امنیت کامل را آنجا حکمفرما بود.

برای سومین بار وقتي به ولایت کنر رفتم که سه سال از تاسیس حکومت اسلامي در کشور می گذشت و کنری ها روز قبل از ورود من سالگرد تاسیس حکومت اسلامي را جشن گرفته بودند، و هنوز بیرق سه رنگ حکومت اسلامي بالای دکان ها و دفاتر دولتی در اهتزار بود و تصاویر رئیس جمهور در کوچه ها و بازار دیده می شد.

بعد از رسیدن به اسعد اباد راست به مهمانخانه ولایت رفتم. مهمان خانه ولایت در نزدیکی بازار قرار دارد مهمانخانه منزل یکی از خوانین کنر است وروزگاری خانه پرجنب وجوش بوده بعد از آنکه پسران و دختران خانه مکتب را تمام کرده و از آنجا راهي پوهنتون کابل شدند، خان باخانواده اش به کابل کوچید ودر سالهای جنگ خانواده او یکه یکه به خارج از کشور فرار کردند خانه وی از طرف حکومت وقت ضبط گردید و زمانیکه مجاهدین اداره کنر را بدست گرفتند از خان و خانواده او خبری نیامد، بنأ خانه در اختیار حکومت در آمده بو به مهمانخان والی تبدیل شده است.

اگر چه از رنگ در و دیوار کلکین خانه سالهای گذشت ولی از چوبکاری سقف وصفه های آن معلوم بود که روزی خانه به مود برابر بوده است. به یادد رباعي حکیم عمر خیام افتادم که چه خوش گفته:

*آن قصر که بهرام در او جام گرفت
* آهو بچه کرد و روبه آرام گرفت
*بهرام که گور می گرفتي همه عمر
* دیدی که چگونه گور بهرام گرفت

ساعت یك بعد از ظهر است و من منتظر ملاقات والی هستم. در اتاقم گشوده شد و محافظ مسلح بمن اطلاع داد که تورن جنرال غلام صادق آخوند زاده ولای ولایت کنر منتظر من است.

به اتاق والی داخل شدم، والی شخص آرام و متین است و روزی از شجاع ترین فرماندهان جهاد افغانستان بشمار می رفت.شجاعت او حتی سالها قبل از تاسیس حکومت اسلامي زبانزد مردم بود او در پشت میز کوچك قرار داشت. در دو طرف میزش بیرق دولت اسلامي افغانستان نصب شده است. اگر چه این اتاق دفتر اصلی ولایتی کنر نبود ولی انباری از کاغذها و عرایض روی مز گذاشته شده است احوال پرسی گرم باهم نمودیم و نامه حاجی حیات الله پسر کاکای والی را که در

آن نامه مرا معرفي كرده بودبرايش دادم. وی قبل از خواندن نامه مرا به یاد اورد که اولین ژورنالست افغان بودم که به مجرد شنیدن خبر انفجار کنر در پنجسال قبل خود را آنجا رسانیده بودم. او خاطره ایی را به یاد اشت که من بالای جسد سوخته یك خانم ایستاده بودم، اشك میریختم و دعامی خواندم.

من مشغول نوشیدن چای بودم ووالی بعد از آنکه هر سه یا چار ورق را مي خواند و امضا میکرد به سوي من رومی آورد و از اینکه کارش زیاد و فرصت حرف زدن نداشت، معذرت می خواست.

بعداز امضاء نمودن چند ورق رویش را بطرف من نموده گفت: «در کنر تغییرات زیاد رخ داده، امارت اسلامي جایش را به حکومت اسلامي خالی نموده است (درسال ۱۹۹۱م) جنگ شدید میان نیروهای حزب اسلامي و جماعت الدعوت بوقع پیوست وبعد از جنگ اکثریت فرماندهان گروههای مجاهدین با جماعت یکجا شدن و امارت اسلامي نر را پایه گذاری کردند.) شیخ صاحب به شهادت رسید است (در کنر مولوی جیمل الرحمن رهبر گروه جماعة الدعوت به شیخ مشهور است. وي درسال۱۹۹۱ توسط یك عرب در پاکستان ترور شد) و کمیته های امدادی توجه کمتر به کنر دارد.»

والی ادامه داده افزود: «با وجودد مشکلات فراوان باز هم توانسته ایم تا ادارات دولتي را فعال سازیم و امینت را برقرار برای رسیدن به هدف باید روزانه اضافه از هژده ساعت کار کنم. خود میدانی که بعد از چارده سال جهاد ودر سنگر قرار گرفتن، روزانه هژده ساعت کار نمودن خیلی خسته کن است. حوالی عصر باید برای مدت یکساعت بخوابیم در غیر آن چشمانم از خواندن خط عاجز می ماند ودماغم کار نمی کند.»

حرف های والی را ز دل وجان شنیدم و تصدیق کردم که هژده ساعت ودن و عریضه خواندن و امضاء نمودن و با اشخاص مختلف السویه و مختلف السلیقه جر و بحث کردن کار آسان نیست.

هنوز سر گرم گفتگو بودیم که محافظ والی داخل اطاق شده گفت :« حاجي فاروق به دره پیچ میرود و از شما اجازه میخواهد». من که دره پیچ را خیلی دوست دارم و از هوای گوارای آنجا لذت برده بودم رویه والی نموده و علاقمندی خویش را به رفتن به دره پیچ اظهار نمودم. والی با رفتن من با حاجي فاروق موافقت کرد و گفت: «شام زوورتر بر گردید و شاهد جرگه بزرگان کنر در خانه من باشید.» موافقت کرده از او خدا حافظي کردم.

دره پیچ زادگان مولوی جمیل الرحمن و خانواده اوست. این دره یکی از مستحکم ترین جبهات نظامي مجاهدین درزمان تجاوز نیروهای شوروی به افغانستان بوده علاوه بر افتخارات نظامي اش، دره پیچ از زیباترین دره های افغانستان بشمار میرود، اگر حکومت افغانستان به این دره سرو سامان میداند سالانه هزاران سیاح و جهانگر را به خود جلب می نمود. این دره با داشتن قطعات زمین مرتبه دار، دریایی خروشان با آب شفاف، ماهی خوشمزه، توت فراوان کوه های سرسبز دهات گلی حیرت آنگیز است. نه تنها طبیعت زیبا بلکه از نگاه بشر شناسي نیز دره پیچ ویژکي خاص دارد. اقوام صافي، دیگان و تاجك های پشتو زبان در کنار هم خانه دارند، اینکه تاجك ها در این دره از کجا آمده و در دهانه های دره در منطقه وتپور جابجا شده و زبان مادری شان را فراموش کرده اند به تحقیقات مفصل نیاز دارند.

(ادامه دارد)

(په تير پسې)

د عمر رضي الله عنه موافقات

عمر رضي الله عنه د صحابه كرامو په تولي كي يو جليل القدر صحابي ؤ، په تيرو كرېنو كي مو د نوموړي د شخصيت په هكله لږ ډير معلومات ولوستل، اوس ئي د موافقاتو په هكله يو څه ذكر كوو يعني د قرآن كريم هغه ايتونه چي د عمر رضي الله عنه د نظر مطابق الله تعالى نازل كړي دي.

امام بخاري او مسلم د عمر رضي الله عنه په روايت سره وائي: عمر رضي الله عنه فرمائي چي ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په دري خبرو كي مشوري وركړي.

يوه دا چي ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چي كه مونږ د لمانځه د پاره مقام ابراهيم ونيسو نوبنه به وي! الله تعالى دا ايت نازل كړ: «واتخذوا من مقام إبراهيم مصلى» (البقره-١٢٥)

يعني ونيسئ مقام ابراهيم د لمانځه ځاي. دوهمه دا چي ما رسول الله صلى الله وسلم ته وويل چي ستاسو كور ته هر ډول خلك ننوځي، كه تاسو په كور كي خپلو بيبيانو ته د پردي حكم وكړئ بنه ده! نو الله تعالى د پردي په باره كي حكم راوليږه. دريمه دا چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښځي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د غيرت په مسئله كي راجمعه شوي وي نو ما ورته وويل كه چيري رسول الله صلى الله عليه وسلم تاسو ته طلاق دركړي نو الله تعالى به ورته ستاسو نه غوره ښځي وركړي. د الله تعالى له لوري همدغه شان ايت نازل شو. «عسى ربه أن طلقكن ان يبدله ازواجاً خيراً منكن» (التحريم-٥)

مسلم د عمر رضي الله عنه په يو روايت كي د بدر د بنديانو په باره كي ويلي «عمر رضي الله عنه چي د بدر د بنديانو په هكله كوم نظر درلود، د الله تعالى له لوري هم هغه شان حكم نازل شو».

يو بل حديث شريف چي په سننو او مستدرك كي ذكر شوي دي. عمر رضي الله عنه وائي چي اى الله! مونږ ته د شرابو په باره كي پوره حكم نازل كړې! نو الله تعالى د شرابو د حراموالي حكم نازل كړ.

ابن بي حاتم پخپل تفسيركي د انس رضي الله عنه څخه نقلوي كله چي د «ولقدخلقنا الانسان من سلالة من طين» ايت نازل شو يعني په تحقيق سره ما انسان د اخښل شوي خاوري څخه پيدا كړي دي. نو عمر رضي الله عنه وائي چي ما وويل :«فتبارك الله احسن الخالقين» يعني بركت والا دي الله، څه ښايسته پيدا كوونكي دي. نو الله

تعالی په همدغه کلماتو دغه ایت نازل کړ.

بخاري او مسلم د عمر رضي الله عنه په روایت سره نقلوي چي کله د منافقانو رئیس عبدالله بن ابيّ ابن سلول رغورسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئي د جنازي د کولو لپاره دعوت ورکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنازي کولو لپاره ورپاځیده. عمر رضي الله عنه وائي چي ما رسول الله صلی الله وسلم ته وویل: اي رسول الله! ایا ته د الله تعالی د دښمن جنازه کوي؟ الله تعالی دغه ایت نازل کړ: «و لا تصل علی أحدٍ منهم مات ابداً» (التوبه-٨٤).

یعني مه کوه لمونځ په یو کس د دي منافقانو چي مړ شي هیڅکله.

ځینو محدثینو دا ایت هم د حضرت عمر رضي الله عنه له موافقاتو څخه شمیرلي دي «یأیها الذین أمنوا لا تقربوا الصلوٰة و أنتم سکریٰ »(النساء -٤٣)

یو بل موافقت د عمر رضي الله عنه دا هم دي کله چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپل قوم د بخښنې لپاره استغفار زیات کړ، عمر رضي الله عنه ورته وویل:« سوآء علیهم» الله تعالی د عمر رضي الله عنه د قول مطابق حکم نازل کړ: «سوآءٌ علیهم أستغفرت لهم» (المنافقون-٦). یعني برابره خبره ده که د دوي لپاره ته استغفار وغواړي او که نه، الله تعالی ورته بخښنه نه کوي.

دا حدیث طبراني د ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي دي.

یو موافقت دا دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر د وتلو او نه وتلوپه هکله مشوره غوښتله، عمر رضي الله عنه ورته مثبته مشوره ورکړه. د الله تعالی له لوري داسي ارشاد وشو: «کما اخرجك ربك من بیتك بالحق و إن فریقاً من المؤمنین لکارهون» (الانفال-٥).

کله چي په حضرت عایشي رضي الله عنها باندي تهمت ولګول شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو سره مشوره کوله، عمر رضي الله عنه ورته وویل! یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! حضرت عایشه تاسي ته چا په نکاح درکړي ده ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: الله تعالی! عمررضي الله عنه ورته وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)!الله تعالی ستاسي سره خیانت نه کوي او دا الفاظ ئي وویل چي «سبحانك هذا بهتانٌ عظیمٌ» (النور-١٦) الله تعالی دغه ایت په همدغو کلماتو کي نازل کړ.

د اسلام په اوایلو کي چي کله روژه پر مسلمانانو فرض شوه نو حکم داسي ؤ چي څوك به له روژه ماتي نه وراندي ویده شو او روژه به ئي ماته نه کړه او د روژه ماتي تاکلي وخت به تیر شو نو بیا به ورله خوراك څښاك او له ښځي سره همبستري حرام وو.

حضرت عمر رضي الله عنه د خپلي ښځي نه د همبستري غوښتنه وکړه، مګر ښځي تريٰ معذرت وغوښت چي ما خوب کړي دي، عمر رضي الله عنه پدي فکر کي ؤ چي کیدي شي ښځه مي د تنګتیا په وجه ځان خلاصوي او همبستري ئي وکړه. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغي او خپله قیصه ئي ورته وکړه. الله تعالی مسلمانانو ته خپل حکم پدي ډول نازل کړ: «أُحل لکم لیلة الصیام الرفث الی نسائکم»(البقره-١٨٧)

یعني حلاله کړي شوه ستاسو لپاره همبستري په شپه د روژي کي د خپلو ښځو سره. دا واقعه احمد پخپل سند کي نقل کړي ده.

ابن حاتم د عبدالرحمن بن ابي لیلي څخه یو حدیث نقل

کړي دي واٸي چي يو يهودي د عمررضي الله عنه سره وليدل، يهودي عمر رضي الله عنه ته وويل هغه جبريل چي ستا ملګري يعني رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د هغه ذکر کوي زمونږ دښمن دي. عمر رضي الله عنه ورته وويل: «من كان عدواً لله و ملآئكته و رسوله و جبريل وميكل فإن الله عدوٌ للكافرين» (البقره-۹۸)څوک چي د الله، ملآيکو ، رسولانو ، د جبريل او ميکايل دښمن وي، بې له شکه الله تعالى د دغه کافر دښمن دي . الله تعالى په همدغو الفاظو څرنګه چي عمر رضي الله عنه ويلي وو دغه ايت نازل کړ.

ابن ابي حاتم او ابن مردويه د ابي الاسود څخه نقل کوي او واٸی چي دوه سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د جګړي د روغي جوړي لپاره لاړل، رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو کس په حق کي فيصله وکړه، هغه بل سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم له فيصلى وروسته وويل چي دا فيصله په عمر رضي الله عنه کوو،کله چي د عمر رضي الله عنه په وړاندي راغلل او خپله مسئله ئي عمر رضي الله عنه ته واورول ه ، د کوم سړي په حق کي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فيصله کړي وه هغه عمر رضي الله ته وويل چي،زما په حق کي رسول الله فيصله کړي ده، عمر رضي الله عنه هغه بل سړي ته وويل چي همداسي ده؟ هغه وويل هو! عمر رضي الله عنه کور ته ننوت او توره ئي راوويستله او هغه سړي چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم له فيصلى وروسته د عمر رضي الله عنه خوا ته د فيصلى لپاره راغلي ؤ مړ کړ. هغه بل سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم خوا ته لاړ او ورته ئي وويل: اي رسول الله! (صلى الله عليه وسلم) هغه زما دعوه دارعمر رضي الله عنه مړ کړ! نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه ګمان نه کوم چي عمر دي د مسلمان د قتل زړه ورتوب وکړي! الله رب العزت دغه فرمان نازل کړ: «فلاوربك لايؤمنون حتى يحكموك فيما شجر بينهم» (النساء-٦٥)

ترجمه: پس قسم دي په رب ستا چي نه مؤمنان کيږي دوي تر هغي پوري چي حکم (منصف) کړي دوي تا په هغه جګړه کي چي پيښه شوي ده په منځ د دوي کي.

بيا عمر رضي الله عنه د دي ايت په نزول سره د قصاص څخه خلاص شو.

يوه ورځ عمر رضي الله عنه ويده ؤ او د ده غلام له اجازي پرته ورننوت، عمر رضي الله عنه د الله تعالى نه سوال وکړ چي اي الله! پرته له اجازي يو بل کره ورننوتل حرام کړي! نو الله تعالى همدغه رنګه حکم نازل کړ.

پورتني موافقات په دي دلالت کوي چي الله رب العزت د عمر رضي الله عنه سره ډيره مينه درلوده او دا د عمر رضي الله عنه د فضيلت او غوره والي ښکاره ثبوت دي. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هغه جليل القدر صحابي دي چي ډير صحابه کرام ترې روايتونه کوي. د بيلګي په توګه د ځينو نومونه دادي: عثمان بن عفان، علي بن ابي طالب، طلحه بن عبيدالله، سعد بن ابي وقاص، عبدالرحمن بن عوف، ابن مسعود ، ابوذر، عبدالله، ابن عباس، ابن زبير، انس، ابوهريره، عمرو بن العاص، ابو موسى الاشعري، براء بن عازب، ابو سعيدالخدري او داسي نور. داسلام دوهم خليفه له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه د(٥٣٩) احاديثو روايت کړي دي.(رضي الله عنه)

(ادامه لري)

د اروپا په زړه کې یو خپلواکه اسلامي هیواد

د المان څخه دعمر پاڅون رالیږنه

که د یوګوسلاویا تاریخ ته یو لنډ ژور پام وشی نو دا هیواد په ١٩١٨ کی د شپږو ایالاتو په اتحاد منځ ته راغي، ددی هیواد د وګړو شمیر څلورویشتو میلونو ته رسیده چی څلور میلونه ئی مسلمانان دی او د ځمکی پراخوالی ئی دوه سوه شپږ پنځوس زره کیلو متره مربع ؤ چی د شپږو ایالتونو سربیا، کروشیا، سلووینیا، مقدونیا، مونتی نیګرو او د بوسینا هیرزګوینا څخه مشتمل ؤ چی اوس هر یو ایالت یو خپلواکه هیواد دی.

یو پخواني یوګوسلاوی لیکوال «ایورند تریك» چا چي په ١٩٧٥ کال په ادبیاتو کی د نوبل جایزه هم ګټلی ده پخپل کتاب کی لیکلی دی چي بوسنیا هیرزوګویا «د ویری او حسد ځای دی».

دده خبره تر یو ځای ځکه حقیقت ته نژدی ده چي ددی سیمی اوسیدونکی له نیمائی څخه زیات مسلمانان دی او د تاریخ په اوږدو کی د یوګوسلاویي د بیلابیلو حکومتی مشرانو له خوا ټکول شویدی. له ١٩٤١-١٩٤٥ کال پوری پدی هیواد کی مذهبی جګړی روانی وی چی سربیان اورتودوکس وو، کرواتیان کاتولیکان او بوسنیا هیرزګوینا مسلمانان وو.

بوسنیا هیرزګووینا د تاریخ په بیلا بیلو پړاونو کی د نړی د څو هیوادو تر اثر لاندی پاتی شویدی.

د مثال په ډول پدي دواړه سیمو د ١٣٨٦ کال پوری عثمانی ترکانو حکومت کاوه چی په ١٥٣٧ کال کی د سرایو په ښار کی د عثمانی ترکانو له خوا د «کرسوم لیجا» مدرسه جوړه شوه چی تر ننه پوری ددي سیمی ډیر زده کوونکی پدي مشهوره مدرسه کی په اسلامي زده-کړه بوخت دی. دي مدرسی ته جوښت ترکی والی «غازی خسرو بیګ» یو مشهور جومات آباد کړیدی، د جومات سره جوښت د غازي خسرو بیګ قبر هم دی. نوموړی مدرسی، د بیګ تاریخي جومات او د بیګ مقبری ددي ښار په شهرت کی خاص رول لوبولی دی.

د اکتوبر په اومه کال ١٩٠٨ کی دا دواړه سیمی د اتریش او هنګري سره پیوند شوی.

کله چی په ١٩١٤ کی د اتریش شهزاده د سربیانو پلاس د سرایو په ښار کی ووژل شو له همدی سببه د لومړی نړیوالی جګړی د اور لمبی بلي شوی او په کال ١٩١٨ کی د اکتوبر په ٢٦ نیټه دا سیمی د یوګوسلاویا سره یو ځای شوی.

په دوهمه نړیواله جګړه کی بوسینا هیرزګووینا د کروشیا یوه برخه وه چی د الماني او ایټالوی متحدي فوځی قوی تر اداری لاندی وه دهمدی جګړی په اوږدو کی د بوسینا هیرزګوینا د مسلمانانو قتل عام پیل شو او دا د سربیانو د چټینکس فاشست نژاد پرست قوم پذیرعه د یوګوسلاویا د ظلم او بربریت د تاریخ یو باب دی.

په ١٩٤٦کی د المان له سقوط وروسته او د مارشال ټیټو د کامیابه دوری سره دا سیمی دیوګوسلاویا د اتحادی جمهوریت یو ایالت وګرځیده. د وارسا د کمونستی بلاك له دړی وړی کیدو وروسته بوسنیا هیرزګووینا په ١٩٩٢ کال کی د مارچ په اوله خپله خپلواکی اعلان کړه او د خپلواکی د اعلان سره سم د ګنو اسلامي هیوادو سربیره اروپایي ټولنی، د امریکي متحده ایالاتو او ډیرو نورو ملکونو ددی هیواد خپلواکی په رسمیت وپیژندله.

بوسنیا هیرزګووینا

د اروپا په زړه کې ددې اسلامي هیواد رسمي نوم د بوسنیا هیرزګووینا جمهوریت دی. چې شمال، جنوب او لویدیځ ته کرواتیان، ختیځ ته ئې سربیان او جنوب ته ئې مونتي نیګرو واقع دی. د بوسنیا هیرزګووینا د وګړو شمیر څلور میلونه درې سوه اوه اویا زرو ته رسیږي چې پدې کې په سلو کې ۴۳ مسلمانان، ۳۱ سربیان، ۱۷ کرواتیان او پاتې نور ئې په نورو ملیتونو پورې اړه لري.

په عقیدوی لحاظ د بوسنیا هیرزګووینا وګړي په سلو کې ۴۳ مسلمانان، ۳۳ اورتودوکس، ۱۹ کاتولیکان او پاتې یې په نورو عقیدو پورې تړلي دي. د ځمکې مساحت ئې یو پنځوس زره یو سل نه ویشت کیلو متر مربع ته رسیږي. ناستون (پایتخت) یې د سرایو ښار دی چې نژدې څلور نیم لکه نفوس لري او د پخوانۍ یوګوسلاویا څلورم لوی ښار دی چې په ۱۹۸۴ کې نړیواله اولمپیکه لوبه هم پدې ښار کې وشوه. نور لوی ښارونه یې بانیالوکا، زینیکا او توسله نومیږي.

ژبه ئې سربو کرات ده چې په لاتیني الفبا لیکل کیږي او پیسه ئې دینار چې په المانی مارك تکیه لري.

ددې هیواد جمهور رئیس عالي جاه ایزت بیګویچ نومیږي چې په ۱۹۲۵ کال کې په بوسینا کې زیږېدلی دی. خپل عالي تحصیلات ئې په حقوقو او سیاسي علومو کي سرته رسولی دی.

په ۱۹۴۶ کال کي د مشهورې جریدې «آل هدایا» ته د یو اسلامي مضمون د لیکلو په جرم ددرې کالو لپاره په زندان کې واچول شو. په ۱۹۸۳م کې یو ځل بیا د ۹ کلو په بند محکوم شو او دشپږو کالو د زندان د تیرولو څخه وروسته آزاد شو. او په ۱۹۹۰ کې د بوسنیا د اسلامي تنظیم چې «دیموکراتیك عمل» نومیږي مشر شو چې اوس د بوسینا هیرزګووینا د جمهور رئیس دنده سرته رسوی.

مطبوعات او میدیا: دا هیواد د ۱۹۴۳ کال راهیسي په لس ګونو جریدي، مجلي او ورځپاڼي لري. څلور راډیو ستیشنونه او دوه د تلویزیون کانالونه لري.

کرهنه: ددې هیواد په ۴۵ فیصده ځمکه کې کرهنه کیږي چې جوار، غنم،



اوریشي، چغندر او تمباکو پکې کرل کیږي.

مڼه، ګیلاس، الوبالو، انګور او ناك ئې مشهورې میوې دي.

د غواګانو روزنه پکې ډیره رایج ده.

د ټولې یوګوسلاویا څلورمه برخه لرګي دلته پیدا کیږي.

کانونه: ژېړ، مقناطیس، وسپنه، سکاره او مالګه ددې هیواد له مشهورو کانونو څخه شمیرل کیږي چې وسپنه او سکاره ددې هیواد زیات عایدات برابروي.

اقلیم: د مدیترانې بحیرې هوا ددې هیواد په اقلیم خاص تاثیر لري چې ژمي ئې سوړ او د حرارت درجه ئې په ژمي کې منفي دوه سانتي ګراد ته راټیټیږي او ددوبي هوائي ډیره په زړه پوری او معتدله ده چې د حرارت درجه ئې مثبت شلو ته پورته ځي.

ددې هیواد مشهور سیندونه لکه اونا، فورباس، بوسنا او درینا هم ددې هیواد په اقلیم او کرهنه کې خپل خاص رول لوبوي.

تووله بریښنا ئی له اوبو څخه اخستل شویده چي اندازه ئی (۸۰۰۰) اته زره میګا واټو ته رسیږی او د ټولی یوګوسلاویا دریمه بریښنا دلته تولیدیږي.

ښوونه او روزنه: ددی هیواد په سلو کي ۲۵ لومړني او منځنی ښوونځی، په سلو کي شل لیسه او په سلو کي پنځو ئی خپل عالی تحصیلات پوره کړیدی چي په اوسنی حال کی د جګړی له کبله ښوونه او روزنه په ټپه ولاړه ده.

د بوسنیا هیرزګووینا جګړه: د بوسنیا هیرزګووینا جګړه د ۱۹۹۱ د سپتمبر په آخره کی هغه وخت پیل شوه چي سربي او مونتی نیګرو قواوی له سرحده واوښتلي او د بوسنیا په قواو ئی حملی وکړی او پدی ډول په ۱۹۹۲ د اپریل په میاشت کی دا جګړه لا پسی توده شوه. دا جګړه کومه چي د بوسنیائی سربیانو او د بوسنیا هیرزګووینا مسلمانانو تر منځ روانه ده د بوسنیا سربیانو تر شا بلګراد ولاړ دی چي د پخواني یوګوسلاویا اکثره اوسیدونکی سربیان دی او د بوسنیا سربیانو سره مالی او فوځي مرستی کوی حتی چي نظامي افراد ورته هم لیږي چي پدی ډول د بوسنیا سربیانو د فوځ شمیر اتیا زره اټکل شویدی، پدی کی دریمه برخه عسکر دبلګراد دی. له بلی خوا د بوسنیا سربیان په مودرنه اسلحه سمبال دی لکه توپونه ټانکونه او جنګی روسی میګ الوتکی.

دا ټوله د روسانو بی دریغه مرسته ده چی د بلګراد سره روانه ده. سربیان نه یوازځی د روسانو سره تاریخي او سیاسی اړیکي لری بلکه سربیان د مذهب له لاری هم ځان روسانو ته نژدی بولی او روسان نه غواړی چي خپل اثر او رسوخ د بالقان په سیمه کی له لاسه ورکړی پټه دی پاتی نه وی چي د بوسنیائی سربیانو مشر «رادوال کراجیک» چي یو طبي متخصص ډاکتر دي او د بوسنیا د سربیانو دډیموکراتیک ګوند مشر هم دی.

په مقابل کی د بوسنیا هیرزګووینا د مسلمانانو د فوځ شمیر دوه لکو ته رسیږی. پدی فوځ کی کم و زیات پنځوس زره کرواتیان دی. د بوسنیا هیرزګووینا مسلمانانو او کرواتیانو په ۱۸-۳-۱۹۹۴ نیټه یو فدراسیون امضا کړ چي په ګډه به یو د بل سره مرسته او د خپلی خاوری دفاع کوي.

دا ښکاره خبره ده چی د بوسنیا هیرزګووینا مسلمانان د فوځ له پلوه کومه ستونزه نلری او د خپلی خاوری ددفاع لپاره پوره فوځ لری مګر کوم شی چي دوی زوروی او ددوی ملا ئی ماته کړیده هغه د ملګرو ملتو له لاری د امریکا له خوا پری لګولی شوی د اسلحي ایمبارګو ده. ځکه چي دوی نه یوازځی دا چي پخپل لاس کی کافی اسلحه نلری بلکه کومه اسلحه چي لری هغه سپکه اسلحه ده. او په مقابل کی ئی دښمن په درندي اسلحي سمبال دی سره له دی چي د ملګرو ملتو د امن فوځ په بوسنیا هیرزګووینا کی پروت دی لیکن بیا هم دا فوځ پدي بریالی نشو چي د اعلان شوي امن سیمو څخه دفاع وکړی، ګر چی وروسره د ناټو د هوائی قواو د بوسنیا په سربیانو هوائی حملی روانی دی او یوه ځمکنۍ چټکه قوه یې هم هلته ورسوله مګر بیا هم تر ننه چی دا لیکنه کیږی د ناټو او د ملګروملتو د قاطع بریالیتوب کومه نښانه نه لیدل کیږی. په راتلونکی کی به ولیدل شی چي څه پیښیږی.

دا ښکاره ده چي د نړۍ زیاتره هیوادونه د بوسنیا هیرزګووینا سره خپله همدردی ښکاره کوی لیکن دا هم پټه نده چي طاغوتي قوتونه ددی هیواد په بیخ کنۍ پسی اخستی ده او دوی نشي کولی چي د اروپا په زړه کی یو اسلامي هیواد ووینی او پدی هڅه کی دی چي دا هیواد یا خو بیخي له منځه یوسی او یا خو یې لا اقل په یوه محدوده دایره کی را ایسار کړی.

دا د اسلامي هیوادو د حکمرانانو اسلامي وجیبه ده چی د بوسنیا هیرزګووینا مسلمانان وورونه پدی جهاد کی یوازځي پري نږدی کوم چي الحمد لله نن ډیرو اسلامي هیوادو خپل غږ پورته کړیدی او بار بار ئی ویلی دی چي د ملګرو ملتو له لاری د امریکی له خوا په بوسنیا هیرزګووینا باندی د لګول شوی اسلحي ایمبارګو به هیځ پروا ونه ساتی چی پدی کی پاکستان، سعودي عربستان، ایران، مصر، المغرب، مالیزیا، اندونیزیا او ترکیه ډیر فعال ښکاری.

په نتیجه کی ویلی شو چي په نژدی وختونو کی د سولی او امن کومی نښي نښاني نه لیدل کیږی خو انشاء الله لیری نده چي ددی اسلامي هیواد اوسیدونکی خپل ورځني ژوند دسولی او امن په فضا کی پخپل آزاد او خپلواکه هیواد کی په سوکالۍاو هوسایني سره پیل کړی.

کونړ د باجوړ په پېښو کې هیڅ لاس نلري د ځنګلونو د ساتنې او څارنې لپاره نظامي شورا جوړه شویده.

(د مجلې خبریال)

څه وخت وړاندې چې په باجوړ کې د پاکستان دحکومت او د تحریک نفاذ شریعت تر منځ یو لړ پېښې مینځ ته راغلې او په نتیجه کې یو تعداد کسان ددې جنګونو په وجه دکونړ ولایت ته په کډه تللي خو پاکستاني مطبوعاتو دغه کسان دکونړ د ولایت له خوا دسیاسي پناه په ورکولو او په باجوړ باندې د برید کولو په تومت وبلل او داسې ئې وښودله چې ګنې دغه کسان بیرته د پاکستان د حکومت سره دجګړې د پاره چمتو کولې او تشویقولې شي. ددعوت د مجلې خبریال په دې اړوند د کونړونو سر-پرست والي محترم حاجي روح الله سره یوه مرکه کړې او په عین حال کې ئې ددې ولایت د اقتصادي او ټولنیزو پرمختیاو او ستونزو په حقله یو لړ پوښتنې طرح کړې دي چې په لاندې ډول سره وړاندې کیږي.

پوښتنه: ویل کیږي چې د تحریك نفاذ شریعت یو شمیر غړو ته د کونړ ولایت کې پناه ورکړې شوې دا خبره څومره واقعیت لري؟

ځواب: یو کال وړاندې په باجوړ کې د پاکستان حکومت د عملیاتو څخه وروسته یو شمیر افراد کونړ ته تللي دي لکه څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده چې د کونړ او سرحد سره جوخت قبایل ګډ قومیتونه او د خپلوۍ ریښتې لري یو ورور د سرحد دې طرف ته او بل د سرحد بل طرف ته ژوند کوي، د پیړیو راهیسې ددوي تر منځ تګ راتګ موجود دی. د باجوړ د واقعاتو نه وروسته یو شمیر افراد د خپلو خپلوانو کورونو ته تللي دي چې شمیر ئې ډیر کم دی او هلته په موقت ډول سره ژوند کوي. دوي ته سیاسي پناه او یا د کونړ د اداري له خوا کوم مراعات نه دي ورکړ شوي او څه چې په اخبارونو کې نشر شوي او یا په دې باره کې نشریږي کوم بنیاد او واقعیت نلري.

پوښتنه: دا خلك چې اوس هلته میشته دي د ژوندانه وسایل د کوم ځای نه پیدا کوي؟

ځواب: دا خلك چې د چا په کورونو کې استوګنه کوي هغوي ددوي د ژوند وسایل برابروي او د اخلاقي او انساني همدردۍ په بنیاد ورسره د غلې او خوراکي موادو مرسته کوي.

پوښتنه: ویل کیږي چې دغه افراد د کونړ څخه راځي او په باجوړ او نورو علاقو مزایل غورځوي په دې باره کې څه

دعوت

د توحید او جهاد مجله

دامتیاز خاوند : دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة

مؤسس : شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشیخ سمیع الله «نجیبي»

اتم کال (٤١) گنه ١٤١٦ هـ ق جمادي الأولی، جمادي الثاني میاشتي/١٣٧٤ هـ ش د میزان-عقرب میاشتی

ددی گنی مطالب

عنوان	مخ
* د افغان کشالي دحل.........................(سرمقاله)	٢
* د استاد رباني د اقتدار..............................	٤
*د شهید شیخ (رحمه الله)له خطباتو څخه..................	٥
* د سرحدونو چارو وزارت..................(مرکه)	٨
*آرامیش بعد از طوفان..............................	١٠
* داسلام ستر فاتح..................................	١٣
* د اروپا په زړه کي	١٦
* کونړ د باجوړ په پېښو کي ....(مرکه)	١٩
* هجرت افغانها و اثرات آن............................	٢٢
* د منزل کاروانه ویښ شه.................(شعر)	٢٦
*غوره ویناوي..	٢٧
* په بیجینگ کې د ښځو کنفرانس	٢٨
* ادریس د دعوت سره په مرکه کي	٣٢
* د صحابه ؤ ژوند ته یوه لنډه کتنه........................	٣٥
* مسلمان ملت او د	٣٨
* د کولرا ناروغي	٤٣
* د تنظیم طلبه راپور	٤٥
* ستاسو پوښتني	٤٦
* ستاسو لیک راورسید	٤٧

دلیکونکی هیئت ترهکتنی لاندی

په افغانستان کی د گډون بیه

میاشتنی: ٥٠٠ افغانی

کلني: ٦٠٠٠ افغانی

په پاکستان د گډون بیه

میاشتنی: ١٠ کلداری - کلنی: ١٠٠ کلداری

نور هیوادونه: میاشتنی: ٣ امریکائی ډالر

کلنی: ١٠ امریکائی ډالر

په افغانستان او نورو بهرنیو هیوادو کی زمونږ نماینده گان

کابل : قاری عبدالستار

کونړ : عبدالکریم «عبید»

پیښور :لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد: سعدالله «المحمدی»

لاهور : حماد شاکر

مظفر آباد: بشیر قریشی

سعودی عرب: هدي الرحمن

امریکا : عبدالرحمن احمد

بریطانیا : منور علی

جرمنی : وائی - ایم حمیم

هالنډ : عماد الدین بکری اسماعیل

مکاتباتی پته . «دعوت مجله» پوسټ بکس نمبر ٦١٤ پښاور پاکستان

بانکی حساب : افغان اسلامي خیري اداره اکاونټ نمبر ١٠٦٣/٧ نیشنل بینک اف پاکستان-صدر روډ - پشاور.

وایاست؟

ځواب: دا بې بنیاده خبره ده کوم خلک چې په کونړ کې استوګن دي هغو ددی توان نلری دغه واقعات خپله په همدی سرحدی علاقو کې منظم کیږی او ددی علاقې په خلکو پورې اړه لرې.

پوښتنه: ایا ددوي او حکومت تر منځه د کونړ اداری یا مشرانو د سولې کوم ګډ پروګرام چلولی دی؟

ځواب: پاکستان زمونږ دویم کور دی او قبایل او د پاکستان په نورو سیمو کې زمونږ بې شماره مهاجرین استوګن دي چې ټول افغانان ور څخه مشکور دی ددی نیکیو بدل به انشاء الله په نیکۍ سره ورکول کیږی.

مونږ د خپل مسؤلیت په دې باره کې پیژندلی دی او ډیر ځله د کونړ مشرانو د تحریک دا فرادو او د پاکستان د حکومت علاقه ئی مسؤلینو تر مینځه د سولې د پاره کوشش شوی دی او جریان لری امید دی چې ددی هڅو مثبته نتیجه تر لاسه شی مونږ طرفینو ته ددی توصیه کړی ده چې په تشدد او جنګ جګړو مسایل نشی حل کیدی بلکه د ورورۍ په فضا کې باید ټول اختلافي مسائل حل و فصل کړی اوس هم د کونړ مشران په دې هلو ځلو کې دی چې طرفین قانع کړي او دغه خلک خپلو کورونو ته لاړشي چې تر یوه حده بریالیتوبونه تر لاسه شوي دی.

پوښتنه: د مودو راهیسې ویلی کیږی چې په کونړ کې د ځنګلونو د حفاظت د پاره خاص ترتیبات نیول شوي دی خو داسې برېښې چې دغه اقدامات نه عملي کیږی علت ئې څه شی دی؟

ځواب: دا سمه خبره ده چې په کونړ کې د ځنګلونو د ساتنې او څارنې لپاره خو ځلې د کونړ جهادی شورا او د ولایت مقام فیصلې صادرې کړې چې باید د ځنګلونو د ضایعاتو مخه ونیسی خو څرنګه چې په هیواد کې جنګونه دي او په یو ولایت کې هم داسې مطمئنه اداره نه ده جوړه شوی چې په ټولو چارو حاکمیت او بر لاسي پیدا کړی ځکه نو د کونړ د ځنګلونو ساتنې فیصلې هم لکه څنګه چې لازم دی تر اوسه پورې نه دی عملی شوی خو اوس د کونړ ولایت ددی کار د عملی کولو د پاره یوه نظامي شورا جوړه کړی ده تر څو د ځنګلونو د ضایعاتو مخه ونیسی او مونږ باور لرو چې دغه ځواکمنه شورا به وکولی شی په دې انسانی او وګړنی کار کې بریالی شی او د ځنګلو د خود سرانه قطع کولو عملیه بنده کړی.

د یادونې وړ ده چې د تیرو حکومتونو په دوران کې د کونړ ځنګلونو په سلو کې څلویښت قطع کړی شوی دی او لرګی یې په داخل او خارج کې خرڅ کړی شوی دی چې په اقتصادی لحاظ ئې کونړ ته لویه صدمه رسولې ده.

په دې لړ کې د مرکزی حکومت سره هم خبری شوی دی چې د کونړ د نجاریُ پخوانۍ فابریکه بیرته فعاله کړی شی د کابل نه راغلی هیئت هم خپله سروی مکمله کړی ده او د بیا فعالولو د پاره ئې مثبت نظر ورکړی دی.

پوښتنه : اوس د کونړ په ولایت کې د کومو پیدا وارو نه د صنعتي استفادې امکانات شته دی او که شته نو د کونړ مسؤلین په دې باره کې څه اقدام کول غواړی؟

ځواب: ددی ولایت عمده پیداوار ځنګلونه او معدنونه دی چې دا وخت دقومونو او قبیلو په کنټرول کې دی او فنی او صنعتي لحاظ ورنه کومه استفاده نه کیږی، خو اوس مونږ کوشش کوو دغه ټوله طبیعي شتمنی په دولتی کنټرول کې واخلو دلته د معدنیاتو د جملې څخه تختي، بیروج، سوتکې او زمرود موجود دی چې ټولی قیمتی ډبرې دی او باید چې په اقتصادی سکټور کې ور څخه کار واخیستل شی.

مونږ ددی د پاره چې د ځنګلونو او قیمتی ډبرو د معدنیاتو څخه مطلوبه او اقتصادی ګټه واخستل شی د مرکزی حکومت او یو شمیر بهرنیو موسسو سره

هم رابطه نیولی ده او ددوی د عملی مرستو د راجلبولو د پاره مو اقدام کړی دی څو ولیدل شی چی نهایت کی زمونږ دغه خواست څه نتیجه ورکوی.

پوښتنه: په کونړ کی د کرکیلی او اوبو لګولو سیستمونه څومره ویجاړ شوی دی او د مسؤلینو تدابیر څه دی؟

ځواب: د کونړ د ولایت په مربوطاتو کی د تیرو اولسو کالو جنګونو په دوران کی د کرنی او اوبو لګولو اوبه خورونه ویجاړ شویدی.

په دی ولایت کی منظم کانالونه او د کرنی د ماشینی کولو سیستم وجود نلری اکثره ځمکی پکی شاړی پرتی دی چی کولی شو ددی جملی څخه د نرنګ، پیرونیی، څاګی، سرکانو او پشد د واګونو نومونه واخلو چی د اوبو په نه موجودیت سره د کلونو راهیسی شاړی او بی حاصله پراته دی.

مونږ باور لرو که چیری کانالونه ورته جوړ شی او د کونړ د سیند د پراخه اوبو نه استفاده وشی په لکونو جریبه ځمکه د کرنی د پاره اماده کیدی شی.

په دي ولایت کی نه یو ازي د کرني د ځمکو د آبادولو ښه امکانات شته بلکه د برېښنا د بند د جوړولو د پاره هم ټول شرایط برابر دی خو په دی شرط چی کورني او بهرني مرستي را جلب شي د کونړ د مسؤلینو ددی مشکلاتو د لری کولو او بیا رغوني د پاره خپل غږ اوچت کړی دی خو په دی شرط چی زمونږ غږ ته څوک غوږ کیږدي.

پوښتنه: په کونړ کی د نورو اجتماعي او اقتصادي ستونزو تر څنګ د پاټکونو مزاحمت هم لا تر اوسه نه دی لری کړی شوی دا به تر څه وخته پوری وی؟

ځواب: کوم پاټکونه چي اوس موجود دی دا ټول د ځنګلونو څخه د ناوړه استفادی د پاره جوړ شوی دی دکونړ ټول اوسیدونکی ددی پاټکونو په شته والی نا راضي دی او قومونو هم په دی برخه کی د همکاری ژمنی کړی دی، کله چی د ځنګلونو د ساتنی د پاره نظامي شورا په خپل کار کی بریالی شی پاټکونه به هم ورسره خودبخوده ختمیږي د یادوني وړ داده چی په کونړ کی د صحت عامي او ښووني او روزني په ډګر کی هیڅ کار نه دی شوی نه مرکزی حکومت او نه بهرنیو موسسو کوم داسی کار کړی دی چی هغه د بیا رغاوني په ردیف کی وشمارل شي.

د کونړ په یولسو ولسوالیو کی تر اوسه یوه شفاخانه هم نده فعاله شوي یوازي د ګوتو په شمار په تنظیمی رابطي څو مدرسی فعالی دی که څه هم دعمومی پروګرام له مخی د (۱۳۰) ښوونځیو د جملی څخه پنځه خلوېښت تش په نامه ښوونځي فعاله دی چي نه ځای لری او نه تدریسي مواد او نه ئی استادانو ته په خپل وخت معاشات رسیږی خو هیڅوک نشته چی ددی ولایت په مشکلاتو غور وکړی او یا ورته د مرستی لاسونه ور اوږده کړی.

پوښتنه: ددی د پاره چی په مشکلاتو غالب او د بیا جوړوني پروسه ګړندۍ په مخ لاړه شی ستاسو سپارښتنی څه دی؟

ځواب: زما په نظر تر څو پوری چی موجوده تنظیمی جنګونه او خپلی منځی اختلافونه لری نشي او تنظیمی تعلقات ختم نشي حالات نشی سمیدلی.

اوس ټول ملت په دی پوه دی چی ټول خلك د څو تنظیمونو په انحصار او یرغمل کی دی او ټول په دی عقیده دی چی یادی موجوده رهبران د اسلامي حکومت د جوړولو دپاره دجهاد د اهدافو په رڼا کی را وړاندی شی او یا دی د سیاسي او پوځي میدان څخه ګوښه شي چی ملت خپل سرنوشت په خپله وټاکی.

اقتباس از جریده «فتح»

هجرت افغانها و تاثیرات آن بر فرهنگ و ثقافت صوبه سرحد

روزنامهء جنگ در شمارهء مورخ ٢٤جون ١٩٩٥ خویش در(جنگ فورم) عده ئي از اشخاص صاحب نظر در مسایل افغانستان را فراخوانده و حاصل تبادل نظر آنان در این میز مدور را به نشر سپرده است از آنجا یکه این مسایل با جریانات افغانستان نیز در رابطه است ما ترجمه متن کامل انرا به خواننده گان محترم تقدیم میداریم.

شرکت کنندگان در این فورم عبارت بودند از:

رستم شاه مهمند (کمشنر افغان مهاجرین)

داکتر نواز طاهر رئیس پشتو اکادمي

داکتر مراد علي شاه(مشاور امیر جماعت اسلامي در امور افغانستان وصاحب نظر در امور افغانستان

مولانا عبیدالله چترالي (عضو شوري ملي پاکستان)

داکتر اشرف عدیل (پروفیسور شعبهء فلسفه)

افرسیاب افریدي (از رهبران قبایل)

افرسیاب ختك (سکرتر جنرال پشتونخوا قومي پارتي)

قسمت اول این مصاحبه ها درشماره قبل به نشر رسید و اینك قسمت دوم ان به نشر میرسد.

داکتر مرادعلي شاه (مشاور امیر جماعت اسلامي در امور افغانستان و صاحب نظر در امور افغانستان:

اثرات این بحران در صوبه سرحد بخوبي مشهود است. این تاثیرات برزبان پشتو احساس میشود علماي افغانستان که به پاکستان آمدند اکثراً پشتو زبان بودند بر طرز زندگي مردم سرحد نیز اثر گذاشتند. ما قبلاً زبان پشتو را بدرستي نمي فهمیدیم ولي حالا بر ادبیات پشتو تاثیر این مهاجرت راشاهدیم و این تاثیرات بر لباس، خوراك و سایر مسایل نیز وارد شده است.

تاثیرات اقتصادي هجرت افغانها بر پشاور بسیار چشمگیر است ساختمان تعمیرات بیشتر شد وقتي کرایه خانه بلند رفت موجب تشویق تعمیر شد. حیات آباد ساخته شد و اگر روزي این مهاجرین بصورت دستجمعي به کشور شان برگردند پشاور به بحران شدیدي روبرو خواهد شد.

اسلحه از قبل در صوبه سرحد موجود بود منتها در ان موقع فقط خانها مسلح بودند و اکنون این خانها از این مسئله شکایت دارند که چرا اسلحه از انحصار آنها بیرون آمده و مردم سطح پائین نیز مسلح گردیده اند و این اسلحه بخاطر اینست که حکومت نمي تواند بصورت درست مصئونیت راتامین کند و ما مجبوریم خود از خویش دفاع کنیم.

به همین علت است که در صوبه سرحد میزان جرایم بسیار کم تر از سایر صوبه هاست در دیگر صوبه ها اسلحه را فقط جنایتکاران در اختیار دارند در پشاور در مقایسه با کراچي اسلحه، بیشتر در اختیار مردم است مگر درین جا وضع کاملاً عادي است زیرا در اینجا اسلحه در انحصار بزرگان نیست.

غرب خواهان استقرار صلح و امنیت در افغانستان نیست در رابطه با اسیاي میانه براي ما در شرایط فعلي وضع بهتر است زیرا ایران و ترکیه بر سر نفوذ درین منطقه باهم در گیر رقابت اند اما روابط ما با افغانستان بیشتر و موثر تر است زیرا باهم فرهنگ مشترك و مذهب مشترك داریم در اسیاي میانه ۵۹٪ مردم باسواد اند آنها قرآن و متون اسلامي را خوانده مي توانند ودر فهم اسلام دشواري زیادي ندارند.آنها به یك زبان صحبت مي کنند ما همه ء انان را به زبان به روسي مخاطب ساخته مي توانیم.

اگر پاکستان قصد ایجاد روابط با جمهوري هاي آسیاي میانه را دارد باید در حد نفوذ ایدئولوژیکي باشد آثار اقبال در آنجا بیشتر از پاکستان خواننده دارد. در آنجا به مسلماني افتخار مي کنند ما به آنها نمیتوانیم تکنالوژي بدهیم ولي اگر در صدد ایجاد رابطه ء ایدلوژیکي باشیم اثرات بسیار عمیقي از ان نمودار خواهد شد.

داکتر اشرف عدیل (پروفیسورشعبهء فلسفه):

در حقیقت کلتور افغاني جزء از تمدن اسلامي است در میان دانشوران، سیاستمداران و رهبران افغان کساني هم بودند که در رابطه با جامعه نظر خاص خود را داشتند بعضي ها به این فکر بودند که به کمك کشورهاي غربي خواهند توانست تا به پیشرفت برسند اما چنین نشد زیرا اختلاف میان دو بلاك بخاطر مفاد خود شان بود آنها به بخاطر ما بلکه بخاطر دسترسي به منافع خود باهم درگیر نبرد بودند به همین شکل بحران فعلي در روباروئي در سطح بین المللي ناشي از آنست که غرب در صدد است تا فرهنگ خود را بر فرهنگ اسلامي مسلط سازد بنا بر این ما با افغانها نقاط نظر مشترك فراوان داریم از نظر طرز عادات از لباس گرفته تا طرز غذا خوردن از آنان تاثیر پذیرفته ایم غذاهاي به سبك افغاني اکنون به سفره هاي ما راه یافته است ارزش اخلاقي ما و افغانها و ارزش هاي فرهنگي ما با آنها روي هم تاثیر متقابل وارد نموده است از نظر علمي تاثیر این مهاجرت بر زبان پشتو بسیار چشمگیر است بعبارهء دیگر فرصتي بدست امده است که ما همدیگر را بهتر بشناسیم.

افراسیاب ختك (از رهبران قبایل)

با جهادي که افغانها بخاطر اسلام آغاز کردند، قبایل کاملاً متفیق بودند و به آنها همراهي کردند. به همین علت است که تاثیرات این جهاد بر مناطق قبایلي بیشتر بوده و دراین مناطق تاکید بر تطبیق شریعت بیشتر است در مالکند و باجور و سایر مناطق که خواست تطبیق شریعت مطرح است با الهام از جهاد افغانستان است و این تحریك تا آنگاه که شریعت در سراسر قبایل تطبیق نگردد خاموش نخواهد شد.

قبایل رسم و رواج هاي خاص خود شان را داشتند اما از نظر علم و دانش

ضعیف بودند. با آمدن مهاجرین علماء آمدند مساجد آباد شد و مدارس بوجود آمد رغبت بسوي علم بیشتر گردید اطفال، جوانان و حتي بزرگان بسوي تحصیل علم راغب شدند.

در مرحلهء اول جهاد افغانستان مهاجریني که آمدند اثرات مثبتي را با خود به ارمغان آوردند زیرا در میان آنان علما وجود داشتند اما بعد از سرنگوني نجیب مهاجریني که از کابل آمدند اثرات منفي از خود بجا نهادند و حامل یك فرهنگ غلط و بیگانه بودند.

با آمدن مهاجرین سطح استخدام در قبایل بلند رفت فعالیت هاي ترانسپورتي ترقي کرد،مارکیت ها آباد شد بعباره دیگر هم از نظر اقتصادي و هم از جنبه هاي معنوي مهاجرت افغانها به خیر قبایل بود.

افراسیاب ختک (سکرتوجنرال پشتونخوا قومي پارتي):

من با پس منظر ي که داکتر اشرف عدیل بیان کرد موافقم. ما درین خطه از جهان در طول تقریباً دو قرن در شکنج روباني میان دو قدرت بزرگ بودیم در شمال تزار روس و در جنوب سلطنت انگلیس این کشمکش ها در آغاز قرن۱۹ میلادي زماني شرع شد که سك ها به اینجا آمدند و در حقیقت پیشقر اول سپاه انگلیس بودند بعداً انگلیس ها آمدند وقتي این دو قدرت با هم نزدیك شدند و خطر درگیري بوجود آمد افغانستان را میان خود تقسیم کردند. علت اصلي این تقسیم همین کشمکش میان روس و انگلیس بود خط دیورند کشیده شد و پشتون هائي که در هندوستان باقي ماندند در نقاط مختلف پراگنده گردیدند.

باتغیراتي جدیدي که اینك در جهان بوجود آمده از این کشمکش ها تا حد زیادي کاسته شده است دالیلي که موجب کشیده شدن خط دیورند شده بود از میان رفته است بنظر من احیاء خط دیورند بشکل سابق آن دیگر ممکن نیست. پشتون ها در بابر انگلیس ها با قوت مبارزه کردند و به همین علت انگلیس ها در مورد آنان قوانین خاسیوضع کردند که ظالمانه بود زیرا آنها میدانستند که پشتون ها حامل یك فرهنگ و یك تاریخ اند در داخل پاکستان نیز تحریك قومي پشتون را ضربه زدند که علت اصلي آن این بود که حکومت هاي حاکم به پاکستان به غرب تفهیم مي کردند که روسها بسوي آبهاي گرم قصد پیشروي دارند در حالیکه ما از وحدت پشتون ها صحبت مي کردیم به این ترتیب ما در کشمکش میان دو قدرت خورد مي شدیم.

بنظر من بعد از این تبدیلي هاي که در جهان شاهد آن بوده ایم این مسایل دیگر از میان رفته است و اکنون زمان مساعد براي وحدت میان مردم این منطقه بوجود آمده است.اگر قضیه را بصورت دقیق ارزیابي کنیم در نتیجه بحران افغانستان راه آسیاي میانه باز شده است و این واقعهء بسیار بزرگ و عظیم در تاریخ است.آسیا مرکزي یکي از مراکز بزرگ تمدن و فرهنگ اسلامي و از مراکز مهم تمدن درین خط از جهان است با باز شدن این راه تغیرات عمیقي درین منطقه از جهان بوجود خواهد آمد.درین منطقه بار دیگر این مراکز مهم فرهنگي به حرکت افتاده اند که از جاذبه و قوت خاصي برخوردار اند.افق جدیدي از همکاري هاي متقابل اقتصادي و فرهنگي بوجود آمده است.

اکنون در میان برادران این احساس بوجود آمده است که دشمني هاي آنان بشکل مصنوعي و توسط قدرت هاي بزرگ ایجاد شده بود و انها را فقط وسیله رسیدن به مقاصد خود ساخته بودند اکنون در میان برادران امکان ایجاد روابط جدید بر بنیاد تفاهم ایجاد شده است هدف ما از داشتن رابطه با کشورهاي

همجوار ترقي اقتصادي و اجتماعي است نه ساختن کدام بلاك نظامي يا پايگاه نظامي عليه کسي وبايد ما در پي چنين هدفي نباشيم و اين هم به مفاد ما و هم ده مفاد منطقه است اما متاسفانه پاکستان نتوانسته است چنين بصيري را از خود نشان دهد بنظر من ما بايد از اين وضع بيرون بيائيم.

باشرايط جديد مسئله پشتونستان به شکل سابق آن از بين رفته است با اين تغييرات زمينه براي اتحاد واقعي پشتونها بوجود آمده است و اين اتحاد فطري و ضروري است اکنون در رابطه با اين اتحاد اعتراضي وجود ندارد اما درين مورد که چگونه اتحاد بايد صورت گيرد جاي بحث است.

بنظر من بايد در منان کشورهاي اين منطقه بايد تشکلي شبيه به يك جامعه مشترك بوجود آيد جامعه مشترکي که به تدريج در آن سرحدات سياسي اهميت خود را از دست بدهند و اقوام تقسيم شده درين منطقه متحد گرديده و چون اقوام [illegible]ر و متحد باهم زندگي کنند و بدين شکل آن اين خواهد بود که خداناخواسته کشورهاي اين منطقه دچار تجزيه گردند و پارچه پارچه شوند به همين علت بايد افغانستان متحد و يك پارچه باقي بماند.

در نتيجه بحران افغانستان تاثيرا سياسي مثبت بر پشتون ها وارد آمد و مليت پرستي بشکل جديد تبارز کرد و استحکام يافت افغانها در حب وطن استوار اند آنها در غلامي اجانت خوردنشده اند آنگونه که مابا آن مواجه شديم.در پاکستان تعداد پشتون ها حدود پانزده مليون است هر چند ما از نظر اقتصادي پيشرفته تر هستيم اما بعلت تسلط طويل المدت زندگي غلامي برما، با تاريخ و فرهنگ خود بيگانه هستيم درين رابطه افغانها از ما پيشقدم تر اند و به همين علت بر فرهنگ و ثقافت ما اثر آنان محسوس است .

در طول تاريخ هميشه اين خطه از جهان درگير کشمکش هاي سياسي بوده است و طوريکه مي بينيم مشکلات صوبه سرحد بعلت قطع کمك خارجي شايد بيشتر شود و اين بالاي اقتصاد ما تاثير منفي خواهد داشت درين رابطه رويه، امريکا قابل تقبيح است زيرا اين کشور تا زمانيکه به مفاد خود مي دانست با افغانها همراه بود اما اينك حتي رسانه هاي خبري امريکا و غرب نيز افغانها را فراموش کرده اند آنها افغانستان را به فراموشي سپرده اند.

مولاناعبيدالله چترالي:

اسلحه زيور مسلمان است و چگونگي استعمال آن به برنامه ريزي دولت رابطه دارد. جهاد افغانستان موجب زنده شدن روحيه، جهاد در بسياري از کشورهاي اسلامي شد اثرات اين بحران بر پاکستان بخصوص بر صوبه سرحد قابل ذکر است. اگر در افغانستان صلح حاکم گردد کويته و پشاور دو مرکز مهم تجارتي خواهد شد.

دشمن اصلي اسلام و مسلمانان امريکا و غرب است دشمن پنهان و خطرناك است اما زمانيکه دشمن به ميدان بيايد دفاع در برابر آن ممکن است جهاد افغانستان چهره، اصلي دشمنان را بما نشان داد.

جهاد افغانستان نه تنها بر لباس غذا و طرز زندگي ما اثر گذاشت بلکه در صوبه سرحد موجب مستحکم شدن مفکوره، اسلامي گرديد، مدارس اسلامي بيشتر شد و تعداد طلبه ها افزايش يافت مساجد زياد گرديد و تجارت نيز رونق گرفت. البته در هر انقلابي نقاط قوت وضعف وجود دارد هيچ گل بي خار نيست.

وقتي که مدارس اسلامي زياد شود تاثيرات مثبت خود را حتماً بر اجتماع وارد مي آورد.

د منزل کاروانه ویښ شه!

یو مثال د سرور بل کــړه اي زما ارمانه ویښ شــــه
دهجران تیاري اوږدي شوي د سهر اسمانه ویښ شــه

ژوبلي ژوبلي ارزوګـــاني مي دا ستا درتـه پرتــي دي
تــه لا هغسي ویـده ئـي اي زمـــا درمانه ویښ شــــه

لائي هغسي لاس ســره دي تري وږمي د ناويتـوب ځـي
انتـــظار کي دي کـړيږي مســافـره ځـوانه ویښ شـــه

ستا منزل په وړانــدي پروت دي ته راوتي په یو لـور ئي
سپیدي پـه چـاودیدو دي د مـنزل کـاروانه ویښ شــــه

نن د ګلو غوټي سـوزي په سکـروټو کي وريتي شوي
وراسره د لاس نیوي شه له دا سور نیرانه ویښ شـه

د سپک دروند تمیز ئي وکړه په ظاهره مـه غولیږه
د انصاف تولونه وکړه اي عادل میزانه ویښ شه

پري سیلاب د اوښکـو درومي اي د خـوار مظلوم ګریوانه
پټ رازونه راڅـرګند کـړه د مـظلوم ګـریـوانه ویښ شـه

ستا په خـــوله د حیا مهر پري پوهیږم بي وسي ده
دحیا څه پاتي نه شـو نور نـو ګـونګ ژبانه ویښ شه

یو بڅرکي شه لمبه شه د اغیار ستم ستي کړه
دظلمت لړي افسوسه کړه رڼا روښنانه ویښ شه

غوره وینا وي

ترتیب او ترجمه
ابو ولید

القرآن

*هر نفس به د مرګ خوند څکي .(آل عمران ۱۸۵)

*او هر هغه څوک چې نافرماني وکړي د الله او د هغه د رسول او ووځي د الله له حدودو نه نو داخل به کړي الله دی په اور (دوزخ)کې، شته دی د لره ډير سپکوونکی عذاب.

(النساء ١٤)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي :

* څوك چې د مشرانو عزت او په کشرانو شفقت نه کوي هغه زما له امت څخه نه دی.
* کوم څیز چې له ځان لپاره غوره نه ګڼې هغه له بل مسلمان لپاره هم غوره مه ګڼه.
* د غریبانو سره دوستي او د امیرانو له مجلسه د لرې پاتې کیدو کوشش کوئ.
* د قبرونو زیارت ته ورځئ څو عبرت ترې حاصل کړئ او له الله تعالی نه د هغوی د مغفرت دعا وغواړئ.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه فرمائي:

دري څیزونه د محبت او مینې د زیاتوالي سبب ګرځي.

۱-سلام کول.

۲-نورو ته په مجلس کي ځاي ورکول.

۳-او مخاطب په درون نوم یادول.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه فرمائي :

* ته د دنیا په راټولیدو کې لګیاښې او دنیا ستا په ورکیدو کې.
* څوک چې د الله تعالی کارونو ته متوجه شي الله تعالی د هغه کارونو ته متوجه شي.

حضرت عثمان رضي الله عنه فرمائي:

* تعجب دی چې مرګ حق ګڼې خو بیا هم خاندي.
* تعجب دی چې تقدیر پیژني خو بیا هم د لاس نه د تلونکي څیز فکر کوي.
* تعجب دی چې دوزخ حق ګڼې خو بیا هم ګناه کوي.
* تعجب دی چې شیطان خپل دشمن ګڼې خو بیا ئې هم اطاعت کوي.

په بيجنگ کې د ښځو بين المللي کنفرانس

ل . م «افسوس»

د چين په مرکز بيجنگ کې د ملګرو ملتو دنګرانۍ لاندې په نړيواله سطحه دښځو يو کنفرانس جوړ شوی ؤ، ددې کنفرانس ابتدايي غونډې د روان ميلادي کال د اګست له ديرشمې څخه پيل او د سپتمبر دمياشتې تر اتمې نيټې پورې روانې وې، وروسته له دې ددوهم ځل لپاره بيا ددې کنفرانس رسمي غونډې د سپتمبر له اتمې څخه پيل او د همدې مياشتې تر ١٥ پورې يې دوام درلود. په دې کنفرانس کې د (٨٥) هيوادونو څخه تقريباً پنځه ديرش زره ښځو ګډون درلود. پدې کنفرانس کې (٢١٨٠٠) غير سرکاري موسساتو او له پنځه زره څخه زياتې پکې دولتي نمايندګانې وې. دا په نړيواله سطحه د ښځو څلورم بين المللي کنفرانس ؤ، لدې وړاندې دا ډول نور کنفرانسونه هم داير شوي دي. د کوپن هاګن په کنفرانس کې پدې خبره غور شوی ؤ چې د نړۍ (٧٠) فيصده ښځې د غربت ښکار دي، په ويانا کې د ١٩٩٢م دانساني حقوقو په کنفرانس کې د ښځو د استحصالولو په مسايلو هم بحث شوی ؤ، همدا رنګه په ١٩٨٥ کې په نيروبي ا و١٩٩٤م کې په قاهره کې د ښځو د حقوقو په باب اوږده بحثونه تر غور لاندې نيول شوي دي. خو اوس اوس چې په بيجنګ کې کوم کنفرانس جوړ شوي ؤ، د کنفرانس له منعقد کيدو څه وخت وړاندې په نيويارک کي ددې کنفرانس د اجنډې لپاره يو ميټنګ داير شوی ؤ.

په دې ميټنګ کې دبيجنګ د کنفرانس لپاره يو پمپليټ چې په (١٢١) پاڼو مشتمل ؤ تيار شوی او د «بيجنګ ډاکو منټ» په نوم و نوموړشو، دا پمپليټ د ملګرو ملتو د ښځو د حقوقو يوې علمبرداري کار کوونکې چې «ډبل اوليرې» نوميزې تيار کړی ؤ. ددې پمپليټ ځينې عمده نقاط داسې دي:

١- په ښځه او نر کې هيڅ فطري توپير وجود نلري.
٢- د ښځې هغه روايتي حيثيت چې هغه يوازې د مور، خور، لور او ميرمنې په صفت پاتې کيږي ددې د بدلون ضرورت دی يعنې ددې حيثيت دچوکاټ بدلول په کار دي.
٣- د هر هيواد په دولتي اسمبلۍ او يا نورو انتخاباتي ادارو کې بايد ښځو ته (٥٠) فيصده برخه ورکړل شي.
٤- ټولنيز چوکاټ بايد داسې عيار کړل شي چې د نر او ښځې

حیثیت سره برابر کړل شي.

۵- په هر هیواد کې باید ددولتي وظایفو (۵۰) فیصده برخه ښځو ته ورکړل شي.

۶- د اولاد د زیږیدلو اختیار باید ښځو ته حاصل شي یعنی دا معامله یوازې دښځو په خوښه وي.

۷- اسقاط حمل باید قانوني وګرځولی شي او ددې حق اختیار ښځو ته ورکړل شي.

۸- ښځو ته باید د همجنستوب او جسم فروشي قانوني اجازت ورکړل شي.

۹- د واده توب ژوند باید ختم کړل شي.

۱۰- په مذهب او بنیاد پرستۍ تنقید شوي چې دا د ښځې د آزاد ژوند په وړاندې لوی خنډونه دي او په نړیواله سطحه د یوې سیکولر ټولنې قایمول ددې کنفرانس اهم هدف دي.

د روان میلادي کال د اګست په میاشت کې د اسلامي هیوادونو د پارلمانونو ښځینه استاذو یو اجلاس په اسلام آباد کې دایر شوی ؤ، په دې اجلاس کې هم دبیجنګ د کنفرانس لپاره تیاریانې نیولې شوي وې او د اسلامي هیوادونو ښځو پکې دګډون ګوابښونه ښکاره کړي وو.

ایران چې د قاهرې له کنفرانس څخه یې دګډون بایکاټ کړی ؤ د پارلماني وفد مشرې «مریم بهروزي» یې وویل چې د بیجنګ کنفرانس کې له هرې لارې چې وي ګډون کوو. د پاکستان د مسلم لیګ ګوند یوې کارکوونکې میرمن «مهناز رفیع» پخپله یوه بیانیه کې وویل چې ددې کنفرانس هدف ترقي، مساوات او امن دی. او دا د ملګرو ملتونو د پنځوسمې کلیزې په مناسبت دایر شوی دی. لکه څرنګه چې د نیروبي کنفرانس کې د ټولې نړۍ ښځې یو ځای شوې او په نړیواله سطحه یې ښځو ته پېښ مسایل تر بحث لاندې ونیول او د ترقۍ لپاره یې په ښځو کې یو نوی تأثر راوپیښ کړ، داسې دا کنفرانس هم د ښځو د ترقۍ، دمسایلو د حل، صحت ، تعلیم او په دولتي دایره کې د ښځو د وظایفو په باب مرستندویه ثابتیدی شي. دا کنفرانس چې دکوم هدف لپاره دایر شوي دی، مونږ هم کولای شو چې پخپل هیواد کې د آینده لپاره یوه تګلاره وټاکو ځکه چې اسلام هم دښځې او نر ترمنځ فرق نه کوي، اسلام ښځې ته دومره حقوق ورکړي دي چې تر اوسه هیڅ یو مترقي هیواد لا نه دي ورکړي.

هغه کسان چې بنیاد پرست دي او خصوصاً هغه طبقه چې علماء ویل کیږي باب تنقید کوي او نه غواړي چې ښځې ترقي وکړي او مخ په وړاندې لاړې شي. یا ده دي وي چې شهناز وزیر علي، حنا جیلاني، عطیه عنایت او تهمینه دولتانه چې د پاکستان دسیکولر طبقي څخه دي ددغه نظر لرونکی دي.

د افغانستان دښځو د مختلفو سازمانونو یو دولس کسیز هیئت چې په کابل کې د اسلامي دولت نظر واخلي او د بیجنګ د کنفرانس د ګډون یا نه ګډون تصمیم ونیسي، اسلامي دولت فیصله وکړه چې په داسې کنفرانس کې باید مسلماني ښځې ګډون ونه کړي. قدریه یزدان پرست چې د کابل د نسوانو د موسسې رئیسه ده، داسلامي دولت دې ډول اقدام ته یې ښه راغلاست ویلی. مګر یو تعداد هغه افغاني ښځې چې په پاکستان کې په غیر دولتي موسسو کې کار کوي، د ملل متحد په بلنه یې په دې کنفرانس کې ګډون کړي ؤ.

د بیجنګ ددې کنفرانس اثرات دي چې په دې نژدې وختونو کې یې په اکثره اسلامي هیوادونو کې د نظر یو لړ اختلافات را پارولي دي او یو نوی سر دردي یې منځته راوړې دي. ځکه هغه سازمانونه او تنظیمونه چې په اسلامي ایډیالوژۍ سمبال دي هغه د بیجنګ او د دا ډول نورو کنفرانسونو د جوړولو مخالفت کوي مګر یو شمیر یې چې د سیکولریزم او د لویدیځ دتهذیب مهارونه یې پغاړه دي هغه یې

سرمقاله

د افغان کشالی دحل کنجي د چا په لاس کې ده؟

په پوره څوارلسو کالو کې وسله وال جهاد ثمر ته ورسید او د یو نیم ملیون څخه د زیاتو شهیدانو د وینو توئیدلو سره دجهاد فرض اداء شو خو څه د پاسه دری کالو کې څرګنده شوه چې دجهاد مقدس اهداف شاته غورځول شوي او د اقتدار نیولو او اقتدار ساتلو مسابقې د مشرانو تر منځ خونړي واقعات را منځ ته کړي دي. د کابل دفتحې سره جوخت توقع دا وه چې مشران مسؤلین به هماغسې چې دجهاد په دوران کې ئې د مبارزینو لیکې د جګړې او دښمنانو د ماتولو د پاره براېرولې د سیاسی مفاهمې د لارې به د یو اسلامي حکومت په جوړولو کې هم متفق شي خو د بده مرغه څومره چې وخت اوښتی دی په همغه اندازه جنګونه شدید شوي اختلافونه لا پرسیدلي، دمشرانو تر منځ د مفاهمې واټن زیات شوي او داسلامي حکومت دښمنانو پکې دومره نفوذ کړي دی چې ان دملي حکومت دجوړیدو اراده هم ورنه سلب کړې شوې ده.

اوس چې دجهادي هدفونو پر خلاف دسیاسی مذاکرې او مصلحتونو ځای نظامي مقابلې نیولی دی نه یوازې افغاني مشران ئې یو د بل سره دتوپ او ټوپک په خوله خبرو ته برابر کړي دي بلکه دا وخت د افغان مسئلې د حل د پاره ریموټ کنټرول د بهرنیو هیوادونو څخه فعالیت کوی او هر یو ئې کوشش کوی چې افغانستان کې په خپله ګټه مسایل و څرخوي او د خپلې خوښې ګوډاګي حکومت جوړ کړي.

نن سبا چې د کابل د نیولو د پاره مجاهدین په خپلو منځونو کې کیوتې دي د بل هر وخت څخه زیات دخارجي مداخلت ابعاد را څرګندیږي او په پوره سپین سترګۍ سره د افغانانو په جهادي او ملي هویت باندې پښې ایښودل کیږي.

او د یادونې وړ خو لا داده چې هر افغان مشر د تقریر او خطابې په وخت کې د جنګونو او ناخوالو حوالې په بهرنیو مداخلو ورتپې خو خپله بیا د همدې مداخلو د تلکه نه د خلاصون چل نه ورځي. که چیرې هر مسؤل او مشر عملاً ددې مداخلو د خلاصون بندوبست کړي واتې نن به په خپله اراده د مسلمان ملت په خوښه اسلامي حکومت جوړ او د جهاد اهدافو به تحقق موندلې واتې خو اوس پوره څرګنده شوه چې دا اکثره ذمه واران او دجهاد د سالارانو په اورو کې هم شګې را وړتې او د اسلامي حکومت د جوړولو د پاره د بې محتوا شعارونو پته ولګیده.

اوس چې د طالبانو د اسلامي غورځنګ په را منځ ته کیدو سره د قواو توازن بدلون موندلی او ټول افغاني جنګي قوتونه پکې دوه پرکه شوي دي د خارجي مداخلې څرنګوالې هم د داګیزه کیدو په حال کې دي او د یو لوی او همیشنی جنګ بوي ورنه زیات محسوسیږي.

تائید او ښه راغلاست کوي. لنډه دا چې ددې ډول کنفرانسونو او غونډو چې هغه په هر نوم تر سره کیږي هدف یې په ټوله نړۍ کې د «نیو ورلډ آرډر» د ډنډې تحقق دی او غواړي چې په نړۍ کې دمور پلار له حدودو څخه یوه آزاده او حیواني ټولنه منځته راوړي. هسې خو ټول لویدیز که هغه امریکا ده او که اروپا له ډیره وخته راهیسې د هر ډول فحشاؤ میدان ته وتلی دی او ټول کړه وړه یې د حیواناتو په څیر دی څکه حیا او عزت هلته هیڅ معنی نه لري، د شرم ټکی هلته څوك نه پیژني، هم جنس پرستی تر دې حده رسیدلې چې د امریکا اوسني جمهور رئیس «بل کلنټن» پخپله یو همجنس پرست شخصیت دی او پخپل فوځ کې د نر د نر سره د واده کولو حکمونه ورکوي، حتی تر دې چې له شل فیصده څخه زیاتي دولس کلنۍ لونه د پلرونو د بد عملۍ ښکار کیږي. په اروپا کې د فحشا او بې حیایی عروج تر دې حده رسیدلی چې د ایټالیا د «مسولیني» یوه لمسۍ چې د (Love) په نوم یې یو ګوند تأسیس کړی ؤ او د اسمبلې د غړیتوب لپاره یوي جلسې ته په داسې حال کې چې بالکل لوڅه او بربنډه وه را ووته او په دغه بربنډ حالت کې یې د جلسې د برخه والوڅخه د ووټ غوښتنه کوله.

له اروپه او امریکا څخه د فحشا ناسور چې اوس یې ملګري ملتونه اسیا ته د سرایت کوښښ کوي په اوسني وخت کې یې هند هم تر کافي اغیزې لاندې راوستی دی. د یو ریپورټ له مخې هغه ښځې چې د بد فعلۍ له امله حاملې شي ددوي د اسقاط حمل لپاره چې کومې د اباني کار کوي د حکومت لخوا ورته امر صادر شوي چې زیږدلی ماشوم که ژوندی وی باید له منځه یې یوسئ او د حکومت لخوا انعام حاصل کړي، هغه انعام چې د دایانو لپاره د قتل په مقصد مقرر شوی دی صرف(۲۵) هندي کالداري دی.

دبیجنګ د کنفرانس په اجنډا کې تر ټولو زیات تنقید په مذهب شوی دی، د مذهب په ټکی نه یوازې مسلمانانو د مخالفت اظهار کړی بلکې د کاتولیکانو مذهبي رهنما پوپ پال هم ددې مخالفت کړی دی او ویلي یې دي چې د بیجنګ په کنفرانس کې د روحانیت او اخلاقیاتو هیڅ خیال نه دی ساتل شوی. د مذهب له ټکي نه چې ملګري ملتونه ورته د تنقید په سترګو ګوري تر ټولو زیات حساسیت ورته د اسلام څخه متوجه دی. همیشه چې ګورو او اورو د لویدیز لخوا دښځو دحقوقو د نه ورکړې په باب اسلام ته ګوته نیول کیږي او وایي چې اسلام ښځې ته پوره حقوق نه ورکوی!

که حقیقت ته پرته له کوم تعصب نظر وشي اسلام چې د ښځې مقام کومې علو ته رسولی دی، تر اوسه هیڅ یو په اصطلاح حقوق پرست نه دی ورکړی څکه اسلام د ښځې حیثیت یوه قیمتي ملغلره ګڼي او له ملغلرې قیمتي بل کوم شی کیدی شي؟! اسلام ښځې ته د سکون او آرام ژوند ورکړی، اسلام هغه دین دی چې تر ټولو وړاندې یې د ښځو سره عدل او انصاف کړی دی او په صفا ټکو کې یې دا اعلان کړی چې نر او ښځه یو برابر درجه لري «لکه څرنګه چې سړي پر ښځه حقوق لري دغه رنګه ښځه یې پر سړي لري» (البقره-۲۲۸).

له اسلام څخه وړاندې ښځه یوازې د اولاد د پیدایښت یوه ذریعه ګڼل کیده او په وراثت او کورني ژوند کې یې هیڅ ډول حیثیت نه درلود، مګر کله چې اسلام راغي ښځې ته یې په کورني ژوند او وراثت کې یو ځانګړی مقام او عزت ورکړ، یوازې دومره ده چې د قرآن پاك د حکم له مخې د یوې کورنۍ د سرپراهي مسؤلیت د سړي پر غاړه لیږدلی دی او دا هم دښځې د حیثیت د زیاتوالي یو بل راز دی.

څکه چې سړي یې باید وګټي او ښځه چې دکورنۍ ملکه ده باید د انصاف سره یې مصرف کړي، په دې ډول عملي کې

دیوی کورنۍ دتوازون او برابربنت راز نغښتی دي، په دی کی د کمیت او کیفیت هیڅ ډول مسئله مطرح نه ده بلکی د کورنۍ غړی یی بیلا بیل خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړی دی مګر د بیجنګ د کنفرانس لایحه عمل څکه دمسلمانانو د مخالفت جوګه شوه چی دغه یو غیر فطری سوچ او خیال دی او د یوی سالمي کورنۍ مساویانه حالت مجروح کوی.

قدرت چي د ښځی او سړی په تخلیق کی کوم فرق او تمیز کړی دی، هیڅکله انسان نشی کولی چی دا توپیر له منځه یوسي، د لویدیز مساوات غوښتونکی چی په کوم نظر دی او کوم مساوات غواړی، پکار خو دا ده چی یو وار ښځه زیږونه وکړی، بل وار یي باید سړی وکړی. نو اوس د فکر ځای دی چی فطرت دغه عمل څرنګه مساوی کوی او دا څرنګه ممکنه کیدی شی؟

د واده توب د ختمولو او جسم فروشي کوم تجویزونه چی د بیجنګ په کنفرانس کی مطرح کیږی، دغه بی وقوفانو دومره سوچ هم ندی کړی چی ایا دا د ښځو دحقوقو ورکړه ده که دحقوقو صلبول؟ په حقیقت کی دا په ښځینه مخلوق پسی خندا کول دی. دمثال په ډول که چیری یوه ځوانه ښځه جسم فروشۍ ته عیاره او د واده توب له چوکاټه ووځي، د پیغلتوب مرحله خو به یاښه یا نابښه تیره کړی او په بازار کی به د مولۍ تیپر غوندی خرڅه شی مګر د ژوند د وروستۍ مرحلی کوایف یی څنګه ارزیابی کوی؟ ایا دا ښځه بیا د خوسا شوی مولۍ رتیپر حیثیت نه لری...!؟

د بشری حقوقو دغوښتنی دغه چغی وهونکی د ښځی د ژوند دغه مرحله له پامه غورزوی.

په هر صورت تاریخي شواهد دا راښایی هر هغه قوم چي نابودیږی د نابودۍ عوامل یی فحشاء او عریانی وی.

د یو مسلمان ملت لپاره «جهاد» او «بي حیايي» دوه متضاد څیزونه دي، که پردی لږ غور وکړو دشلمی پیړۍ اخری دور یو جهادی دور دی او ددی جهادي دوری د خړ پړتیا لپاره بی حیا صیهونستان لګیا دی کله په یو نوم او کله په بل نوم د جهاد د مخنیوی او د مسلمان ملت د روښانه مستقبل د نفی کولو کوښښونه کوی او ددی کار د تر سره کیدو لپاره د ملګرو ملتو له لاری په هر اسلامي هیواد کی د سیکولریزم او جمهوریت له نومونو څخه کار اخستل کیږی، تر څو لبرل او دیموکرات خلك په دولتي سطحو ددی کار د عملی کولو لپاره ښه فاعلین شی او د غربي حیوانیت شوم ارمانونه پوره کړی. ددی هدف لپاره نن د ټولی اسلامي نړۍ په تهذیب، ثقافت، مذهبي او اخلاقي اقدارو حملی پیل شوی دی او کوښښ کیږی چی په مسلمان ملت کی بی حیایی، بدکاری او فحشا چی د مسلمانانو د نیك سیرتۍ او پردی د سینګار نفي کوی رایج کړی.

ددي شیطاني منصوبي هدف په ټوله نړۍ او په ځانګړی ډول په مسلمانه ټولنه کی کورني سیستم له منځه وړل دی، څرنګه چی واده او نکاح یوه مذهبي او اخلاقي پابندۍ ده ختمه کړی او یوه داسی ټولنه تعمیر کړی چی هغه د مورولۍ او پلار والۍ له حدودو آزاده وی او یا په بل عبارت هغه یوه داسی ټولنه وی چی انسان پکی د حیوان غوندی بی مهاره و اوسیږی منځته راوړی. ددی لپاره کله د آبادی د بهبود په نوم او کله د ښځي نر د مساواتو په نوم د دوکو او فریبو زمینه سازي کیږی، تر څو بشری ټولنه چی د اشرف المخلوقاتو ټولنه ده له شرم او حیا څخه عاری کړی او د کور له حرم څخه یی بهر راوباسي او هر ځای پرته له قید وقیود شهواني نیلی وځغلوی او د صیهونیت اصل هدف ددوی په اصطلاح «حق» تر لاسه کړی.

د شهید ابوادریس ځوی ادریس د «دعوت» مجلې سره په مرکه کې وویل:

زمونږ مشرانو د خپل رب سره کړې وعده پوره کړه، اوس زمونږ د کشرانو دا فرض دی چې د شرکیاتو او بدعاتو تر ګمې د توحید په شمع روښانه کړو.

د مجلې خبریال سعدالله «المحمدي»

د غرمې یوه بجه وه، ایله مې د ماسپښین لمانځه سلام وګرځاوه چې د دعوت مجلې د ادارې لخوا پدې موظف شوم چې د شهید پوهاند ابو-ادریس فضل الرحیم (رحمه الله) کور ته کوم چې په جلوزو کې واقع دی ورشم او د نوموړي شهید د ورونو او زامنو سره د نږدې څخه وګورم.

د مرکې په تکل د هجرت کلي د لارو کوڅو د لوړو ژورو څخه په تیریدو پوره دوه بجې وې چې د شهید استاد د کور د دروازې په زنګ مې ګوته ورپېنګه کړه، د لږ درنګ وروسته د شل کالو په عمر یو متدین ځوان په داسې حال کې چې قلم ئې په لاس او کتابونه ئې تر خټ کې نیولې وو د دروازې مخې ته راغئ.

د سلام علیک او روغبړ وروسته ئې راته د میلمستون دروازه خلاصه کړه او هلته مو ورسره د شهید استاد د ژوند په اړوند دغه مرکه برابره کړه چې په لاندې متن لوستونکو ته وړاندې کیږي.

پوښتنه: لطفاً خپل ځان د مجلې لوستونکو ته معرفي کړئ؟

ادریس: د هر څه د مخه زه ستاسې د راتګ څخه د زړه د کومې منته کوم او هرکلی درته وایم، زما په زړه کې وه چې پخپله دفتر ته درشم او د خپل شهید پلار د ژوندانه د مختلفو اړخونو په اړوند معلومات درته تهیه کړم خو دا چې تاسې ځما څخه پدې کار کې لومړی شوئ او خپله راغلئ، دا ستاسې د ادارې د لطف او د اسلامي دعوت سره د بې کچه مینې ښکاره دلیل دی. ځما نوم ادریس او د شهید پوهاند فضل الرحیم مشر ځوی یم، البته د دولسم ټولګی څخه فارغ او د شهید پلار د زیاتو مصروفیاتو له امله د کور چارواکي ماته سپارل شوي دي.

پوښتنه: د پلار د شهادت غږ دې څنګه واوریده او په کوم حالت کې وئ؟

ادریس: د ۱۹۹۵کال د شپږمې میاشتې په لومړۍ نیټه ځما پلار د کور څخه د دعوت او جهاد پوهنتون ته پداسې حال کې چې د محصلینو د امتحان کتلې شوې پارچې ورسره وې د خپلې وظیفې د سرته رسولو په نیت ووت، زمونږ د کور او عمومي سرک تر منځ تقریباً یونیم سل متره فاصله وه، لدې امله چې موټر تر کوره پورې نه راته ، ځما پلار د معمول مطابق هره ورځ د موټر تم ځای ته ځان رساوه.

اګر که نوموړی خوځو ځله د پوهنتون اداری ته دا وړاندیز هم کړی ؤ چې د پوهنتون موټر ئې تر کوره پورې ورسوي ځکه په دغه پیاده لار کې هغه د خپل ځان لپاره د اسلام د قسم خوړلو دښمنانو لخوا خطر محسوساوه او د نوموړي د تلو

راتلو وخت هم معین ؤ له بده مرغه د پوهنتون پدی هکله کوم اقدام څه چی سر ئی هم ونه خوځاوه.

په هر حال نوموړی شهید به هره ورځ په کور کی د فامیل غړو ته د سهار لخوا یو یا دوه حدیثونه بیان او تشریح کول، مونږ د دغه مبارکو احادیثو په زده کړه او تکرار او مناقشو مصروف وو چی ناځاپه خبر راورسید چی استاد د نامعلومو اسلام دښمنو کسانو له خوا په شهادت ورسید.مونږ د «انالله و اناالیه راجعون» په ویلو سره د خپلی مور د هدایت مطابق سمدست د صلاة حاجت په لمونځ ودریدو، لږ درنګ وروسته د شهید استاد په وینو سور جسد د هم هغه موټر څخه ښکته کړی شو کوم چی پوهنتون ته د استاد د رسولو په نیت راغلی ؤ.

ما می پلار ښکل کړ او د کورنی ټول افراد می د شور، ژړا او ځوږ څخه وژغورل.

د شهید پلار د شهادت غږ لکه د تندر غوندی خپور شو، له هر ځایه په پښتو، فارسی، اردو او عربی ژبو تلیفونونه شروع شول، له یوه سره به له خبرو وروسته بیا تلیفون زنګ وواهه چی تقریباً یو ساعت مسلسل په تلیفون مصروف شوم.

پوښتنه: د شهید استاد شهادت په تاسی څه اغیزه وکړه؟

ادریس:د شهید استاد ناځاپی شهادت زمونږ احساسات او اسلامی جذبه د کفارو او اسلام دښمنو عناصرو په مقابل کی څو چنده کړه او دا مو د الله تعالی سره وعده وکړه چی تر اخرنی سلګی د ژوند پوری به د شهید د ارمانونو کاروان خپل منزل ته رسوؤ.د اسلامی انقلاب بزدله دښمنان پدی شوم فکر کی وو چی دوی به د شهید استاد په شهادت سره د هغه د لاری پیروان د اسلامی دعوت او سربښندنی څخه واړوی، خو دوی پدی خپله خامه او پوچه مفکوره کی د ناکامی سره مخ شول ځکه شهید داسی دعوتګر شاګردان او باتور ځوانان وروسته پریښی دی چی هر یو ئی د توری، قلم، فکر او سیاست په میدان کی د نوموړی وارثان شمیرل کیږی.

د شهید پلار شاګردانو د الله تعالی سره ژمنه کړی چی د اسلام د سپیڅلی دعوت په خپرولو کی به د هیڅ قسم تزویر او تلبیس څخه کار نه اخلی بلکی د خپلو مشرانو په څیر به.د «لایخافون فی الله لومة لائم» په لار روان وی تر څو د حق دا دعوت خپلی زرینی وړانګی او روښانه پلوشی د نړی ګوټ ګوټ رڼا کړی او یا مونږ هم پدی لار کی د خپل رب سره د شهادت په جامو کی لت پت مخامخ شو.

پوښتنه:د شهید پوهاند ابو ادریس (رحمه الله) د تاریخی یادونو له جملی څخه لږ څه که وواياست ښه به وی؟

ادریس: د شهید استاد د ژوندانه هره لمحه یادونه ده، خو د نمونی په ډول به ورته زه په لنډو ټکو کی داسی اشاره وکړم:

لومړی دا چی کله نوموړی شهید ښه او بد پیژندلی د همغه وخت څخه ئی د الله تعالی په لار کی خپل مور، پلار او وطن هر څه پریښوده او ګاونډی هیواد پاکستان ته د علم د حصول په خاطر مسافر شو. دوهم دا چی تر هغی خپل وطن ته راستون نه شو ترڅو چی یو متبحر عالم شو او بیا په کال ۱۳۳۹هجری شمسی کی عسکری ته سوق شو، چی وروسته له دوه کالو او دری میاشتو په کال۱۳٤۲هجری شمسی کی د تخارستان په مدرسه کی داخل او په کال۱۳٤۷د کابل د شرعیاتو په پوهنځی کی شامل شو.

دریم دا چی شهید استاد نهایت بااستعداده او بی اندازی ذکی شخصیت ؤ له ابتدا څخه به ئی چی هرځای امتحان ورکاوه په اعلیٰ درجه به کامیابیده.

بل دا چی نهایت قاطع انسان ؤ چی هرکله به ئی د یو کار د سرته رسولو اراده وکړه هغه به ئی د الله تعالی په فضل او بیا په خپله فولادی اراده سرته رساوه او د نوموړی امانتداری د ده د خپلو خپلوانو، موسساتو او د تنظیمونو رهبرانو ته ښه معلومه ده چی بی حده امین شخصیت ؤ.

بل دا چی د هر یو شخص په مقابل کی به ئی د حق وینا کوله او هیڅ نوع ترس ئی نه درلوده او د نوموړی لیکوالی او

ژباړنه په اسلامي نړۍ کې څه چې کفري نړۍ ته هم په زياته پيمانه خپره او ترجمه شوې ده چې دا ټول د ده تاريخي يادونې دي.

ځلورم دا چې عسکري کول، بيا د شرعياتو په پوهنځي کې شامليدل او بيا د شهادت څخه يو کال د مخه د پوهاند رتبې ته رسيدل د نوموړي يو ځانګړې ياد دی چې ډير عالمان ورته ګوته په خوله پاتې دي.

د نوموړي شهيد يو تاريخي ياد دا دی چې په ۱۳۴۹هجري شمسي کال کې ئې د کمونستانو په مقابل کې د لغمان ولايت مسلمانان په عمومي قيام راپاځول او کمونستانو ته ئې په عملي توګه غابښ ماتونکی ځواب ورکړ او بل دا چې غير لدې چې په عربي هيوادو کې تحصيلات وکړي په عربي ژبه او ګرامر پوره حاکم ؤ. د شهيد د تاريخي يادونو په اړوند به دومره ووايم چې:

ستا د ښايست ګلونه ډير دي

ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

پوښتنه: د اسلامي دعوت په لار کې که د نوموړي خدمتونو ته هم اشاره وکړئ ډير به زړه پورې ؤي؟

ادريس: شهيد استاد چې کله د لمړي ځل لپاره د علم د حصول په طلب د خپل کور څخه ووت، د نوموړي دا هدف نه ؤ چې علم ځان ته حاصل کړي اوبس.بلکې د نوموړي هدف دا ؤ چې ګردې نړۍ ته ئې خپور کړي لکه چې د خپلو وينو په قيمت ئې د اسلامي دعوت لپاره په زرګونو شاګردان په جوماتونو او علمي مرکزونو کې تربيه کړي دي او د نوموړي خدمتونو ته مخکنی ځواب کې هم ما په تفصيل سره اشاره وکړه.

پوښتنه:د شهيد استاد د خپل کور د اعضاؤ سره د شهادت څخه لږ د مخه څرنګه چال چلند ؤ؟

ادريس:لکه څنګه چې د نوموړي شهيد ټول عمر په دعوت کې تير شوی، هغه عادت درلود چې په کور کې به ئې هم اکثره وخت سهر او ماښام د الله جل جلاله دين بيانولو، په دغه ورځو کې پدې خبره ډير خوشحاله ؤ چې د دعوت او جهاد پوهنتون د محصلينو د عقيدې مضمون پارچې ئې مراجعه کولې داسې ئې وويل:«هغه نيالګي چې ما په ډير کړاو او تکليف وپالل، اوس راته رسيدلي او ميوه ورکونکي بريښي. الحمدلله ټول د اسلام دعوتګران او تحريکي بچيان دي».

د شهادت څخه لږ د مخه د ده د کړو وړو څخه مونږ ته څرګنديده چې خوږ پلار راڅخه چيرته د لرې سفر په تکل روان دی.

پوښتنه:د شهيد پوهاند څخه څومره علمي ليکنې پاتې شوې دي؟

ادريس: د استاد د علمي څيړنو برسيره کومې چې په مطبوعاتو کې نشر شوې دي، تقريباً څلويښتو کتابونو په شاوخوا کې د هغه علمي اثارو اټکل شوی دی.

پوښتنه:د «دعوت» مجلې د لارې څخه د سلفي دعوت پيروانو ته ستاسې پيغام څه دی؟

ادايس:د سلفي دعوت پيروانو ته زمونږ پيغام دا دی چې ګرانو ورونو! لکه څنګه چې الله تعالى په مونږ او تاسې اسلامي دعوت فرض کړی دی، هغه شان خپل دعوت د خپلو شهيدانو په څير په ډاګيزه طريقه سره وچلوئ او د الله تعالى د رضا په خاطر د هر هغه طاقتور سره چې هغوی سره بې دينان، مشرکان، قاتلان، دهريان مخلوط وي ګډون ونکړئ. د اسلامي دعوت بچيان دي د پخوا څخه لازيات هوښيار، زيرك او ويښ واوسي. زمونږ مشرانو خو د خپل رب سره کړې وعده سرته ورسوله، اوس د کشرانو دا فرض دی چې په خپلو سرونو کفنونه وتړي او د شرکياتو او بدعاتو ترګمۍ د توحيد په شمع روښانه کړي. سلفي دعوت يو خالص سوچه اسلامي دعوت دی، د دې لپاره هر لاروی بايد خپله سينه سپر کړي او د خپلو مشرانو د وينو د يوې قطرې بدل په سلو قطرو سره واخلي.

چې شهادت د فنا نوغې ګڼي

هغوی دې بحر کې لمبلې نه شي.

الله تعالى دې مونږ او تاسې د اسلام د دين خادمان وګرځوي.

(ومن الله التوفيق)

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ژوند ته یوه لنډه کتنه

د محمدشیرین «اسد» لیکنه

حضرت براء بن مالك انصاري رضي الله تعالی عنه

ببرسر، په وجود خوار او دنگه ځوانی، خو په زړه دومره زړور چی په یواځی ځان ئی په یوه موقعی د سلو تنو مشرکینو سره مقابله وکړه او ټول ئی له تیغه تیر کړل.

حضرت براء بن مالك رضی الله عنه ... یو نه ویرېدونکی او زحمت کش انسان ؤ ، کله چی به د کفارو سره د جنگ په میدان کی مخامخ شو تر هغه به نه په شا کیده تر څو چی به د کفارو ټولی له شکست سره نه ؤ مخامخ ... ری.

همدغه وجه وه چی حضرت عمر رضی الله عنه خپلو ټولو والیانو ته هدایت کړی ؤ چی چیری براء بن مالك رضی الله عنه د اسلام د لښکر سپه سالار ونه ټاکئ ، ... ه هغه یو جذباتی او ضدی انسان دی چیری د ده د جذباتو په وجه اسلامی لښکرو ته څه نقصان و نه رسیږی.

هسی خو د براء بن مالك رضی الله عنه د بهادری او میړانی تاریخ ډیر زیات اوږد دی خو ږدی بحث کی به مونږ د هغه د میړانی یوه واقعه د مشت به نمونه خروار تاسو ته ذکر کړو.

کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له دی فانی دنیا نه رحلت وکړ نو کوم خلك چی ایمانونه ئی کمزوری وو له دین نه منحرف شول او په کوم رفتار ئی چی دین قبول کړی ؤ په هم هغه رفتار ئی دین پرېښود. خبره دی حد ته ورسیده چی صرف په مدینه او طائف کی هغه مسلمانان د اسلام په دائره کی پاتی شول چی ایمانونه ئی پاخه او ارادی ئی مضبوطی وی.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د دغه فتنی په مقابل کی د یو فولادی غره په څیر مقاومت وکړ او د انصارو او مهاجرینو یولس لښکری ئی ترتیب او د یوه اسلامی بیرغ لاندی ئی منظمی او د جزیرة العرب په څلورو اړخونو ئی تقسیم کړی. ترڅو مرتدین په سمه لاره راولی او هغوی د حق په پوهیدو مجبور کړی.

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ټولو مجاهدینو ته هدایت ورکړ چی لومړی خو دغه مرتدین په نرمۍ د حق په لور دعوت کړی که چیری انکار ئی وکړ نو بیا له زور نه کار واخلی او د توری په زور هغوی د اسلام له حقانیت نه خبر کړی .

په جنگی لحاظ د مرتدینو په دغو ډلو کی له ټولو نه طاقتوره ډله د مسلمه کذاب قبیله وه، مسلمه کذاب خپل څلوېښت زره تجربه کار پوځیان د اسلامی لښکرو په مقابل کی منظم کړل ، دغه څلوېښت زرو کسانو صرف د قومیت او نژادی توپیر په وجه د مسلمه کذاب نه ملاتړ او ملگرتیا کوله، ځکه د هغه د قوم اکثره کسانو به ویل چی مونږ ښه پوهیږو چی محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله تعالی رښتینی رسول دی، مگر مونږ د «ربیعه» قبیلی دروغجن سړی د «مضر» قبیلی په رښتینی سړی غوره گڼو.

د مسلمانانو یو لښکر چې سپه سالار ئې عکرمه بن ابوجهل ؤ د مسلمه کذاب په لښکرو یرغل وکړ مګر د مسلمه کذاب د لښکرو له اړخه ئې سخته ماتې وخوړه او په شاشول. له دې وروسته حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د مهاجرو او انصارو بل لښکر چې خالد بن ولید ئې مشرې کوله د مسلمه کذاب د لښکرو په مقابل کې واستول په دغه اسلامي لښکر کې حضرت براء بن مالك رضی الله عنه هم شامل ؤ. د مجاهدینو دغه لښکر د «یمامه» په سیمه کې د مسلمه کذاب له لښکرو سره مخامخ شو، دا ځل هم اسلامي لښکر د مسلمه کذاب د لښکرو په مقابل کې د ماتې سره مخ شو او حتی دښمنان د خالد بن ولید خیمې ته راورسیدل او د خیمې مزې ئې وشلول او غوښتل ئې چې د خالد بن ولید میرمن په شهادت ورسوي خو په هغوی کې یو تن هغوی له دې کار نه منع کړل.

په دغه وخت کې مسلمانانو فکر وکړ که مونږ دا ځل هم د مسلمه کذاب د ملګرو له اړخه په شکست په شا شو او د مسلمه کذاب ډله په مونږ بری اومومي نو الله دې نه کړي اسلام خو لا څه چې نوم به ئې هم په جزیره عرب کې ختم شي.

خالد بن ولید اسلامي لښکر بیا منظم کړ او د انصارو او مهاجرینو جلا جلا ډلې ئې برابرې کړې او د هرې کورنۍ مشري ئې د دغه کورنۍ یو فرد ته وسپارله.

د دواړو پوځونو په منځ کې سخته جګړه پیل شوه ، د مسلمه کذاب ملګرو سخت مقاومت وښود او مسلمانان هم په ډیره میرانه او بهادرۍ جنګیدل.

حضرت ثابت بن قیس چې د اسلام جنډه ئې په لاس کې وه کفن ئې په تن کړ او ځان ئې په خاورو کې نیم خښ کړ تر څو اسلامي جنډه تر وروستي وخته د هغه په لاس کې رپانده وساتل شي.د هغه دغه ارمان پوره شو او د شهادت نه وروسته اسلامي بیرغ د هغه په لاس کې هم هغه شان په هوا کې رپانده پاتې ؤ.

د حضرت عمرضی الله عنه ورور زید بن خطاب رضی الله عنه به په اوچت آواز شعارونه ورکول: ای مجاهدینو! د دښمن په مقابل کې یو موټی شئ .

ای مجاهدینو! ورمخکې شئ او د دین دښمنانو له شکست ورکړئ!

ای غازیانو! نن به زما له خولې تر هغه بله خبره وانه وریئ تر څو چې یا مسلمه کذاب شکست نه وی خوړلی او یا زه په شهادت نه یم رسیدلی.

دا ئې وویل او په دښمن ئې حمله وکړه او تر هغه وجنګید تر څو د الله په لار کې د شهادت مقام ته ورسید.

د حضرت ابو حذیفه رضی الله عنه غلام حضرت سالم د مهاجرینو بیرغ په لاس کې ؤ او قوم ته ئې دا اندیښنه وه چې چیرې د کمزورۍ په وجه د هغه له لاسه د اسلام بیرغ راګذار نه شي، هغه ورته پوره ډاډ ورکړ چې هیڅ فکر مه کوئ، زه د کمزورۍ هیڅ احساس نه کوم او په پوره ذمه وارۍ مې دا دنده په غاړه اخیستې ده. هغه د اسلام جنډه تر هغه هسکه وساتله تر څو چې شهید کړی شو.

خو د حضرت براء بن مالك د شجاعت او میرانې په مقابل کې دغه ټول واقعات ډیر معمولي دي.

کله چې خالد بن ولید رضی الله عنه وکتل چې جنګ ډیر خطرناك حد ته ورسید نو حضرت براء بن مالك رضی الله عنه ته ئې وویل: ای د انصارو ځوانه! د خپل قوم د مدد لپاره ورمخکې شه.

حضرت براء بن مالك رضی الله عنه خپل قوم ته وکتل او ورته ئې وویل: تاسو یو هم مدینې ته د واپس تلو فکر مه کوئ او داسې فکر وکړئ چې له نن نه مدینه تاسو ته پاتې ده ، له نن نه تاسو ته یو الله او یو جنت دی. دا ئې وویل او د الله اکبر په ناره ئې د جنګ میدان ته ورودنګل.د دښمن صفونه ئې مات او

سرونه ئی ورپری کړل. د حضرت براء رضی الله عنه حمله دومره شدیده وه چی دښمن ئی دی ته مجبور کړ چی نژدی باغچی ته پناه یوسی. دغه باغیچه په اسلامی تاریخ کی د «مرگ د باغیچی» په نوم یادیږی ځکه دښمن په دغه باغ کی پناه ولخستله او په ځانونو پسی ئی دروازی بندی کړی او په ظاهره له دوی سره مقابله کول گران کار ؤ.

حضرت براء بن مالك په ډیر مهارت په یو ډال کی کیناست او نورو مجاهدینو د لسو نیزو په ذریعه دغه باغ ته ورغوزار کړ، په دغه باغ کی چی په زرگونو مشرکینو او مرتدینو پناه اخستلی وه ،د حضرت برا ابن مالك رضی الله عنه په لیدو ئی وارخطا او پښتی په رپیدو شوی، حضرت براء بن مالك رضی الله عنه څه مشرکین قتل کړل او ځان ئی مرکزی دروازی ته ورساؤ او په دروازه کی نور لس تنه محافظین چی د دغه دروازی ساتندی وو هم قتل کړل او دروازه ئی د نورو مجاهدینو پر مخ خلاصه کړه.

د اسلام دښمنان چی ځانونه ئی د مسلمانانو له ویری په دغه باغ کی پټ کړی وو ټول قتل کړی شول، په دغه معرکه کی تقریباً شل زره مشرکین او د دین دښمنان له منځه یوړل شول. په دغه ډول بلاخره مجاهدینو ځانونه مسلمه کذاب ته ورسول او هغه ئی هم ختم کړ.په دغه معرکه کی د حضرت براء بن مالك رضی الله عنه په وجود کی د اتیاو نه زیات د نیزو او تورو د گذارنو پرهرونه وو. مجاهدینو حضرت براء بن مالك رضی الله عنه د علاج معالجی لپاره خپلی خیمی ته راوست او حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه هم د هغه سره هلته پاتی شو. الله تعالی حضرت برا ابن مالك ته شفاء نصیب کړه او مجاهدین فاتح راستانه شول.

دحضرت براء بن مالك به همشه دا آرزو وه چی د شهادت مرگ ئی نصیب شی، کله چی د هغه دا آرزو د «مرگ په باغیچه » کی پوره نه شوه نو د دغه پاك مقصد د وصول په خاطر ئی په نورو جنگونو کی برخه واخستله.

په فارس کی چی کله د «تستر» جگړه پیل شوه نو مسلمانانو د فارس لښکری په یوه مضبوطی قلعه کی محاصره کړی، دغه محاصره به چی څومره اوږدیده نو د فارس لښکری به د ډول ډول مصیبتونو سره مخامخ کیدی بلآخره چی ډیر په تنگ شول نو د محاصری د ماتولو لپاره ئی داسی طریقه پکار واچوله چی د قلعه په دیوالونو باندی ئی د اوسپنو زنځیرونه راښکته کړل او په سرونو کی ئی ورله په اور کی سره چنگکونه (کړی) واچولی تر څو دغه سکروټی (کړی) د مجاهدینو په وجودونو پوری ونخلی او هغوی ژوندی قلعه ته راکاږی.

د دغو زنځیرونو نه یوه کړه د حضرت براء بن مالك رضی الله عنه د وروړ حضرت انس بن مالك رضی الله عنه په وجود پوری ونختله او دښمن د زنځیر په راښکولو شروع وکړه.

کله چی حضرت براء بن مالك وکتل چی دښمن د هغه وروړ په بیړه راکاږی نو فوراً ئی ورمنډه کړه او زنځیر ئی ونیولو په دغه وخت کی د اور سکروټو د هغه دواړه لاسونه وسوزول خو زنځیر ئی پری نه ښود او خپل وروړ ئی له دښمن له جال نه بچ کړ.

وروسته مسلمانانو په دغه قلعه حمله وکړه او ټول کفارئی مردار کړل ، په دغه جگړه کی الله تعالی د براء بن مالك رضی الله عنه دعا قبوله کړه او د شهادت عظیمه مرتبه ئی نصیب شوه .

(رضی الله عنه)

مسلمان ملت او د یهودیت دام

کچلوال

له کومه وخته چې د حق او باطل تر منځ د مبارزې دور پیل شوی دی الله تعالی پخپل علم او بصیرت سره د مسلمان ملت د خبرتیا او بیدارۍ لپاره خپل حکمونه ددې پخاطر نازل کړي چې مسلمان ملت د خپل دښمن په مقابل کې شکست او ماتې ونه خوري او د خپلې مبارزې او مجاهدې ثمر لاس ته راوړي.

ددې کار لپاره چې هر قوم ته الله تعالی خپل استاذی (پیغمبر) رالیږلی، ور سره جوخت یې خپل اسمانی قانون دیو کتاب په شکل رالیږلی دی. دغه رنګه د خاتم النبیین محمد صلی الله علیه وسلم د امت لپاره چې تر ټولو اخرین امت دی، الله تعالی ورته د هغه دښمن په باره کې چې له ډیره وخته راهیسی یې د اسلام مقابلې ته سنګر جوړ کړی پخپل کتاب کې فرمایي: «ولن ترضی عنك الیهود و لا النصاری حتی تتبع ملتهم قل إن هدی الله هو الهدی ولئن اتبعت اهوأهم بعد الذي جاك من العلم ما لك من الله من ولي ولا نصیر» (البقره/ ۱۲۰).

یعنی یهودیان او نصرانیان د حق خبرې له منلو سره هیڅ علاقه او کار نه لري، دوی خپل ضد ټینګ کړی او ستاسی دین نه مني، که چیري تاسی ددوی تابع شئ نو دوي خوشحالیږي او دا ناممکنه خبره ده، دوی ته ووایه (اي محمده!) بې له شکه چې د الله تعالی له طرفه هدایت فقط اسلام دي یعني په هره زمانه کي چې کوم دین الله تعالی رالیږي هغه هدایت دی، نه د یهودیانو او نصاراؤ دود او دستور، که چیرې تاسی ددوي دخوښې پیروي وکړئ او سره له دې چې ستاسې سره علم وی او په قرآنی احکامو پوهیږئ نو تاسو بیا د الله تعالی له عذابه هیڅوک نشی ژغورلی.

الله تعالی بل ځای فرمائي: «یأیهاالذین آمنوا لا تتخذوا الیهود والنصاری أولیأ بعضهم اولیأ بعض» (المایده-۵۱)

یعنی اي مؤمنانو! تاسو د یهودیانو او نصرانیانو سره دوستي مه کوئ ځکه دغه یهودیان او نصرانیان پخپلو منځو کې دکفرپه وجه دوستان دی او ستاسی په مقابل کې متفق دی. یعني دغه یهود او نصارا د «الکفر ملة واحدة» مصداق تمثیلوی، که دوی پخپل منځ کې هر څومره مذهبي یا د نننې عصر په اړوند سیاسی اختلافات لری خو د مسلمان ملت په مقابل کی یو موټی او یو سنګر دی.

قرآن عظیم الشان د مسلمان ملت د خبرتیا او د مسلمان د ژوند د تګ مشی لپاره د یو مکمل ائین په شکل ارشادات بیان کړی دی. د سورت مایدې په (۸۲) او نورو ډیرو ځایونو کی مفصل بحثونه د یهودو او نصاراؤ د مکرونو او فریبونو په هکله مسلمان ملت ته ښودل شوی مشاهدی دی. دا یو حقیقت دی چی هر وخت یهودیانو د نورو کفری ډلو سره ملګرتیا ددې لپاره کړې چې اسلام او مسلمانان په هره حربه چې وی له منځه یوسی او په دوی بر لاسی بیامومی. کفر دغو مکارو ډلو د تاریخ په اوږدو کی د اسلام او مسلمانانو په ضد له هیڅ ډول زیاتی څخه ډډه نه ده کړی، د بیلګ په توګه د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د مکی مشرکانو په کومه پیمانه ضررونه رسولی چی دا هر چاته د لمر په څیر ښکاره دی، همدا رنګه ملعونو یهودیانو هم له هر ډول سپکو او ناوړه

فریبونو څخه لاس نه دی نیولی، په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې تیزې غورزولې، په خوراك کې یې ورته زهر اچولي، سحر (کوډې) یې پرې کړې. لنډه دا چې خپل هر کوښښ یې د اسلام د مخنیوی او د له منځه وړلو لپاره کړی دی.

که دځمکې پر مخ د انساني ټولني په حالاتو رڼا واچول شي نو ددې انساني ټولني اکثریت خلك له ډېره وخته راهیسې د ډول ډول ستونزو او مشکلاتو سره مخ دي، خو دا ستونزې او مشکلات دانسان د ژوند سره تړلي څیزونه دي. انفرادي مسایل داسې وي چې انسان تر څه حده کولی شي چې د پیښنو مسایلو د حل په باب څه تدارك محسوس کړي او د حل لپاره یې تر ممکنه حده لارې چارې ولټوي مگر ددې په څنگ کې د اجتماعي مسایلو را منځته کیدل یوه داسې ستونزه وي چې د حل لپاره یې امکانات ډېر درانه پریوځي، خو بیا هم هره مسئله او ستونزه یو څانگړی پس منظر لري او د مسئلې دپس منظر څخه دمسئلې حل محسوس کیدلی شي. ددغه انساني ټولني له جملې څخه نه یوازې مسلمان امت له ډېره وخته راهیسې له سنگینو مشکلاتو سره مخ دی بلکې عیسائیت هم ددغو مشکلاتو په لومو کې ښکیل دي او ددې ستونزو او مشکلاتو مخترع او دام اینښودونکی نړیوال صیهوني یهودیت دي.

له تیرو دریو لسیزو را پدیخوا د نړۍ د مسلمان ملت د مسایلو د سنگین والي په پس منظر دصیهوني یهودیت مکروه څیرې په پیښنو ستونزو خندنۍ او خوښي بنکارۍ. په هر صورت د یهودیانو په فطرت کي تخریبکاري، سازش او احسان فراموشي څه نوې خبره نه ده بلکې دا ددوي د فطرتي ترکیب مهم اجزا دي.

دا صیهوني یهودیت له ځان څخه پرته نور انسانیت ته دحیوانیت گمان کوي او همدا راز د نورې انساني ټولني خاتمه او له منځه وړل ددوی د بقا او همیش والی څانگړی هدف دی. خو دلته سوال دا را پیدا کیږي چې یهودیت د داسې نجس سوچ او فکر خاوند ولې دي؟

څکه په عام ډول خو دا خبره ډاگیزه ده چې یهود د «تورات» مقلدین دي خو حقیقت دا دی چې د تورات مقدس نوم یوازې د عامو اذهانو د غولولو او دوکه کولو لپاره استعمالوي او په اصل کې ددوي د هغه تورات پیروي دی کوم چې په مکمل ډول تحریف او جعلي دی. په یهودي شریعت کې نن وخت «تلمود» ته بنیادي ترجیح ورکول کیږي او د خپل مقدر سوچ له تلمود څخه مشتق وي. لومړی باید تلمود وپیژنو چې تلمود څه شي دی او د تلمود تاریخي حیثیت څه ډول دی؟

تلمود په اصل کې د عبراني ژبې یوه کلمه ده چې په عربي کې د «نظام» په معنی استعمال شوې ده او دا د هغه کتاب نوم دی چې یهودي علماؤ پکې د تورات تحریفي شرحه کړې ده. دې کتاب د تورات ځینې احکام په نظر کې نیولي مگر په ځینو احکامو کې له تورات سره بالکل مخالف واقع شوی دی.

په یولسمه عیسوي پیړۍ کې تلمود په دوه ؤ کتابونو تقسیم شو چې یو یې د «تلمود یشلم» او بل یې د «تلمود بابل» په نوم یاد شو. په هر صورت په یهودیانو کې یوه طبقه خلك داسې هم دي چې تلمود نه مني او د تورات پیروي کوي.(الأدیان والفرق والمذاهب المعاصره ص-۲۳)

د تلمود مقلدینو او پیروکارو چې تلمود ته کوم څانگړې اهمیت ورکړی، ددې بنه اندازه ددې نه لگیدي شي چې په شپاړسمه عیسوي پیړۍ کي یهودي علماؤ خپله اجتهادي سلسله بنده کړه او دا فتوی یې صادره کړه چې «که چا د تلمود له احکامو څخه یوه ذره سر غړونه هم وکړه، په هغه به دیهواه عذاب او مرگ نازل شي.» (مقالات هاشمي ص-۱۳۸).

اوس د تلمود په احکامو یو لنډه غوندې نظر اچوو، له دې احکامو څخه د یهودیانو د سوچ او نظر ډېره بنه اندازه لگیدی شي.

۱- یهود د الله په نزد د ملایکو نه هم زیات محبوبیت لري او دا د الله هغه عنصر دي لکه څنگه چې ځوی د پلار عنصر دی.

۲- که یهود د ځمکې پر مخ نه وو نو د ځمکې څخه برکت اوچتیږي او لمر بې نوره کیږي، همدا رنگه د باران وریدل هم بندیږي.

۳- یهودیان پر غیر یهودیانو داسې فضیلت لري لکه څرنگه چې انسان یې پر نورو حیواناتو لري. غیر یهودیان ټول دسپو او خنزیرانو په څیر دي او ددوی

اوس ټولو افغانانو ته څرګنده شوه چې زمونږ د جهادي مبارزې د اجنډا خلاف سازشونه روان دي او اصولاً د اسلامي حکومت د جوړېدو او د جهادي څواکونو يو ځای کيدل ديو جهاني سياسي بحران په معنی نومول شوی دی ځکه نو دسولې او اسلامي حکومت دجوړيدو د پاره لا اوږد منزل پاتی دی.

په تيرو دری نيمو کالو کی د جنګی ډلو تر منځ دمصلحينو منهو ترړو هيڅ نتيجه ورنکړه، د مشرانو ناستی پاستی او تنظيمی طرحو هيڅ ځای ونه نيوه دا ځکه چی د افغانانو داسلامي هويت د محوه کولو د پاره کلونه پخوا ددوی اراده اخستل شوي ده او دوی ئی صرف د يو بل د وژلو د پاره په جنګی سنګرونو کی کيښنولی دی.

په موجوده حالاتو کی چی هره ډله ځان ته امتيازات او قدرت غواړی د شريك او اسلامي حکومت د جوړولو د پاره ئی را يو ځای کول په يوه معما بدل شوي دی، دغه بناغلی په دی سوچ نکوی چی جهاد د کوم هدف د پاره کامياب شوی دی او د ملی وحدت د تامين د پاره د افغانانو پيوستون څومره ضروری خبره ده، د بده شامته دښمنانو زمونږ د اسلامي کړنلارې د نصب العين په عوض چی بايد د اسلامي معاشرى مطلب ژوند وکړو دتوپك او کوتك په استعمال سره هغه ضوابط مسلط کړی دی چی نتيجه ئی د ترغيب په ځای د مرګ ژوبله او وحشت څخه نور څه نه دی راوتلی.د سياسی بحران په دی حساس او نازك وخت کی چی د دين او وطن دښمنان د افغانستان دتس نس کولو دپاره په کمين کی ناست دی د ټولو افغاني او جهادی ډلو اسلامي رسالت دی چی ددی بحران څخه د راوتلو د پاره يو بل ته لاسونه ورکړی او د ځان ځانی،او ډلبازۍ،د اسلام ضد او افغاني ضد اعمالو نه تير شی او په اسلامي طريقه د جهادی اجنډا مطابق د اسلامي حکومت د جوړولو په کار کی ټولو کورنيو او بهرنيو دښمنانو ته غابښ ماتونکی جواب ورکړی او همدا د افغان کشالی د حل يوازينۍ لاره ده.

تر کومه ځايه چی په دی لړ کی د جماعت الدعوت الی القرآن والسنت ددريځ تعلق دی، هغه دا دی چی جماعة الدعوة د پخوا څخه ددی څرګندونی کړی دی چی جنګ د حل لاره نه ده او که په جنګونو څوك اصرار کوی نو بيا بيا دوی دی ته اړ کيږی چی خپل افغاني ارادی پريږدی او د جنګ د تداوم پخاطر د خپلو ارادو په بدل جنګی وسائل تر لاسه کړی او د پردو ناروا شرايط ومنی. جماعت جنګ او جنګ ته دا ډول وسايل برابرول په کلکه ردوی. او ټولو په جنګ کی ککړو ډلو ته وائی چی نور د افغان مسلمان ملت په حال رحم وکړئ. دسولې او تفاهم لاره غوره کړئ، د اسلامي مباديو او افغاني قوی ارادو په بنياد خپل داخلی شخړي حل وفصل کړئ. نړيوالو ته د افغان قوم ددی جنګونو او روزمره نيولو چی د يو بل دشمن په نوم عنوانوی په اوچت اواز ددشمن فلاني فلاني منطقه ونيوله شوه ، دومره افغانان ووژل شول،د مسخرې ګرځيدلی دی او پوهنتی چی څوك مرئ؟ د چا وسايل او امکانات ضايع کيږی او د چا څخه فتوحات کيږي! ؟ اوس هم وخت دي چی د وروروليی په فضا کی خبرو ته کښينی جګړی ختمی کړی او په اسلامي او افغاني رواياتو شخړی حل کړی او پردو ته نوره د لاس اوږدونی موقع ورنکړی.

«ومن الله التوفيق»

کورونه د حیواناتو د غوجلو په ډول ناپاک حیثیت لري، د یهودیانو لپاره پر غیر یهودیانو باندی هره نرمی حرامه ده ځکه چی دوي د یهودیت او الله دښمنان دی.

٤- هغه څه چي د ځمکی پر مخ موجودیت لری د یهودو ملکیت دي او کوم څه چي دغیر یهودو په لاس کی دی دا غصب شوی دی، له هری لاری چی وی باید ممکنه وسایل په کار واچول شی او دغه غصب شوی ملکیت لاس ته راوړل شي.

٥- د یو یهودی لپاره دا حرامه ده چی د خپل یهودی ورور څخه غلا وکړی مګر دا عمل کول له غیر یهودی سره کول واجب دي، ځکه چی د نړۍ ټولی شتمنۍ د یهودیانو لپاره پیدا شوی دی او دوی دا حق لری له هر ممکنی لاری چی وی، ددی شتمنیو مالکان جوړ شي (الأدیان والفرق والمذاهب المعاصره ص-٢٤-٢٥)

د تلمود له احکامو څخه دا خبره ښه په ډاګه جوتیږی چي په اسلامي نړۍ کی تر اوسه څه تیر شوی او څه تیریږی، دا د تلمودیانو مقصد او هدف دی کوم چی له تلمود څخه ورته هدایت کیږی. د تلمود ددغه ډول احکامو د تعمیلولو لپاره چی نن سبا یهودیانو کومه طریقه انتخاب کړی او په کار اچولی ده، دا نه یوازی د تلمود له احکامو سره موافق نه ده بلکی د تلمود له احکامو څخه یکی څو چنده افراط کیږي.

نن په نړیواله سطحه هره مسئله او پیښه ستونزه ددوی له شومو سازشونو څخه خالی نه ده نور ملتونه په جنګ اچوی او پخپله له منځه وځی، ټول نړیوال او بیا په ځانګړی توګه مسلمان ملت چی نن سبا په کوم دام کی ښکیل دی، داددوی د سازشی پروګرامونو هڅی دي. مسلمان ملت یا پخپل منځ کي او یا له بل کفری قوت سره په یو نوم او بل نوم جنګول او مشت و ګریوان کول ددوی دمنشور یوه کړی ده. دلته باید دا حقیقت هم ظاهر کړو چی اسلام او عیسائیت دواړه ادیان دوي ځانته خطر ګڼي مګر په نننی وخت کی عیسائیت د اسلام په مقابل کی استعمالوی او د مسلمانانو د له منځه وړلو کوښښ کوی، که نن د اسلامي نړۍ حالاتو ته په زیرکتیا سره وکتل شی، دوي تر ډیر حده پخپلو دغو مذمومو مقاصدو کی کامیاب شویدی.

همیشه دغه مذموم او بدنام یهودیان ددی ارمان په کوښښ کی دی چی هغه ورځ لاس ته راوړی چي دوي ته یی په تلمود کي له وړاندی نه پیشبینی شوی او هغه په ټوله نړۍددوي د راج او حکومت ارمان دی.

په اوایلو کی یهودیان د تلمود د اوامرو له نظره د کوم مسیحا د راتلو په انتظار وو، مګر اوس ددوی ذهنونه په دی متیقین دی چی کوم مسیحا ددی کار د ترسره کیدو لپاره پخپله نه راځی بلکی دوي باید پخپله دغه هدف لاس ته راوړی. ددی هدف لپاره یهودیانو د (١٨٩٠-نه تر ١٩٠٥م) پوری دغه ډول نظریات او فکری طرحی جمعه کړی او بالآخره په دی کامیاب شول چی یوه مشترکه لایحه یی تشکیل کړه، د یهودی زعماؤ دغه نظریات او شیطانی منصوبه نن وخت په نړۍ کی د «پروتوکول» په نوم خلک پیژنی. د پروتوکول منصوبه څه شي دی او د کوم هدف لپاره تشکیل شوی ده؟

پروتوکول هغه منصوبه او طرحه ده کومه چي په اصل کی د تلمود د احکامو د تطبیق لپاره جوړه شوی ده. ددی پوښتنی د څیړنی او روښانه کولو لپاره دکوم متنازعه کتاب په ځای د انسایکلو پیدیا څخه استفاده کوو.

انسایکلو پیډیا د (Protocl of the Elders of zoin) تر عنوان لاندی دیهودیانو هغه منصوبه چي د عیسائیت د خاتمې او ددنیا د نظام د سمبالولو لپاره یی کوم کوښښ پیل کړی؛ پرده اوچته کړی دا منصوبه په حقیقت کی هغو اجلاسونو او غونډو ته یوه ځغلنده کتنه ده.چې د ١٨٩٧م کال په لومړی صیهونی کنفرانس کی ترتیب شوی وه، ویل کیږی چی کم وزیات (٢٤یا٢٧) اجلاسونه ددی مسودی لپاره دایر شوی وو. په دی اجلاسو نو کی د یهودیانو او فری میسنز تنظیم د دواړو لخوا د عیسائیت د له منځه وړلو پروګرام ترتیب شوی ؤ.

ددی منصوبی مندرجات د لومړی ځل لپاره په ١٩٠٣م کال کی د روسیی په یوه ورځپانه کی خپاره شول او وروسته بیا په ١٩٠٥م کال کی ورته کتابی شکل ورکړی شو او نشر شو. له دی وروسته دا کتاب په فرانسوی ، انګلیسی، جرمنی او نورو ځینو ژبو ته ترجمه شو.

د پروتوکول تاریخی اړخ ته چی

وګورو، داسې معلوميږي چې د يهوديانو دغه سازشونه چې دپروتوکول دمنصوبې لاندې تعمليږي، دا کيدئ‌شي چې د ۱۸۹۰م کال نه هم مخکې طرحه شوي وي ځکه ددې يو ښکاره ثبوت ديهوديانو ديو خفيه او رازدار تنظيم «فرى ميسنز» وجود دی. دا د پردې ترشا او خطرناک تنظيم په تاريخي لحاظ ډير سبقت لرې. په هر صورت حقيقت چې هر څنګه وي خو تر ټولو مهمه خبره دا ده چې يهوديت داسلام او بلکې تمام انسانيت چې هغه غير يهود وي دخاتمې لپاره د ډيرو حساسو او منظمو سازشونو څخه کار اخلې او خپل شوم هدف ته ځان رسوی.

د پروتوکول دستاويزات چې کله نړيوال منظر ته رسوا شول، په نړيواله سطحه يوه داسې غوغا پيل شوه چې يهوديان په ډيره کي وغورځيدل او لنده دا چې د پروتوکول د دستاويزاتو د رسوايې له امله يې ژوند په خطر کې ولويد، ويل کيږي چې يوازې په روسيه کې د لس زره په شا وخوا کې يهوديان قتل کړې شول. کله چې يهوديانو ته حالات وخيم او کړکيچن شول، په دې وخت کې يو يهودي ليډر «هرتزل» په ډيره چالاکۍ‌او زيرکتيا د نړيوالو عکس العمل کشف کړ او يوه واويلا يې خپره کړه چې د «قدس طلأقدس» څخه څه کاغذات غلا شوي دي او د پروتوکول ددستاويزاتو په هکله يې دنړيوالو اذهانو د غولونې او د حالاتو ددفع کولو لپاره دا بهانه خوره کړه چې دغه دستاويزات د يهوديانو نه بلکې ددوی خلاف يو سازش دی. دوهمه د خلاصون لار چې يهوديانو ځانته اختيار کړه هغه ددغه چاپ شوی کتاب له بازار څخه په مکمله توګه اخستل وو او د پيسو په زور يې کتاب غايب کړ، مګر له دې سره سره بيا هم ورته حالات نامساعد وو. دريمه حربه چې يهوديانو په کار واچوله هغه ددولت شيندل، ښځې او د يهودي زعماؤ دهشت اميزه اختارونه وو چې د يهوديت مخالفينو ته يې ورکول. چې ددی کار لپاره يې په ځانګړې توګه د برطانيې له حکومت څخه استفاده وکړه، د برطانيې حکومت چې څه ناڅه ديهوديت تر تاثير لاندې ؤ په روسيه يې زور راوړ او په نتيجه کې يهوديانو ته په کافي اندازه خلاصون او کاميابي حاصله شوه.

په روسيه کې ددغه چاپ شوي کتاب (پروتوکول) يوه نسخه د برطانيې يو کتابتون ته رسيدلې وه چې د چاپ نيټه يې (۱۹۶۰م د اګست لسم) ښودل شوې وه مګر دا هم د نړيوالو اذهانو د غولوني يوه‌ډ پلمه وه ځکه داسې معلوميږي چې کله په روسيه کې د (۱۹۱۷م)کال انقلاب منځته راغي په برطانيه کې د «مارننګ پوسټ» جريدې يو خبريال د معلوماتو لپاره روسيې ته سفر وکړ، دغه خبريال له وړاندې نه د ځينو روسي کتابونو سره اشناؤ، چې پدغو کې دغه کتاب (پروتوکول) هم شامل ؤ، نوموړی خبريال دغه کتاب هماغه وخت په انګريزي ژبه ترجمه کړی ؤ، د همدغه خبريال د معلوماتو له مخې دغه کتاب غالباً په ۱۹۰۵م کې «نيلوس» نشر کړی دي.

اوس د پروتوکول او فری ميسنز دواړو تنظيمونو تر منځ اړيکو ته يو کتنه کوو:

مخکې د پروتوکول په باب يو څه ناڅه معلومات چې په لاس راغلي وو توضيح شو خو د فري ميسنز په هکله مو چې څه معلومات لاس ته راوړی په لاندې ډول دي:

فري ميسنز د يهوديانو هغه پخوانی تنظيم دی کوم چې نن ورځ هم په ټوله نړۍ کې د يهوديت د بقا او په نړۍ‌د تسلط لپاره هر ډول هلې ځلې کوي او د يهوديت دهدف لپاره دهر ډول حربو او سازشونو زمينه سازي کوی. د بشرې حقوقو د تحفظ او اخلاقي مرستو په نوم دا تنظيم په ټوله نړۍ کې له ډيره وخته راهيسې کار کوی. دا تنظيم په تاريخي لحاظ دومره سبقت لري چې دپوره څيړنې لپاره يې ډير وخت او امکاناتو ته ضرورت ليدل کيږي، موږ دلته دضرورت په اړوند يوه سرسري کتنه کوو. دفری ميسنز تنظيم په ظاهره د بشرې حقوقو د تحفظ، بشرې همدردۍ‌او اخلاقي تعليماتو ترويج کوی. دا تنظيم يو مخفی تنظيم نه بلکې يو رازدار او پر اسراره تنظيم دی ځکه دا تنظيم اکثره وختونه د ځينو سياسی تحريکونو سره په سياسی ميدان کې هم ودريدلی دی، دبيلګې په توګه دا تنظيم د ايټاليا، لاتينې امريکا او هسپانيا د سياسی تحريکونو سره پاخه سياسی روابط لري او همدا رنګه ددی د ممبرشيپ (غړيتوب) لپاره عامو خلکو ته کوم ممانعت نشته. اوس دی خبري ته پاملرنه کوو چې يهوديانو دپروتوکول د کاميابۍ لپاره کومي لارې انتخاب کړی او ددې

لپاره یې کومه منصوبه تیاره کړېده.

«تیوډر هرټزل» د نولسمې پیړۍ په آواخرو کې صیهوني تحریك پیل کړ او د نوموړي په صدارت کې په ۱۸۹۷م کال کې یو بین المللي صیهوني کنفرانس جوړ شو، دې صیهوني کنفرانس په فلسطین کې د یهودي ریاست د قایمولو لپاره دغه لاندې ذریعې اختیار کړې:

۱- په فلسطین کې د یهودي ریاست د بقا لپاره د بزګرانو او صنعت کارانو په مناسبه طریقه نوي اباديدل او د دوی همت افزايي کول.

۲- د هر هیواد د اساسي قانون سره سم او م بین المللي ادارو پذریعه په ټوله نړۍ کې د یهودیانو اتحاد او تنظیمول.

۳- په یهودیانو کې قومي شعور او بیداري پیدا کول او دوی ته وده ورکول.

٤- او د صیهونیت دټولو مقاصدو لپاره د حکومتونو درضامندۍ او نیکبینۍ د حاصلولو لومړنی کوښښونه کول.

(ماهنامه چراغ راه-جون ۱۹٦۸م)

په لنډ ډول دا ویلی شو چې یهودیت په نړیواله سطحه د خپل تسلط لپاره کوم پروګرامونه تشکیل کړي دي ددې دپرې په امید یې دغه لاندې څلور لارې اختیار کړې دي چې پدغو طریقو ددوی وړاندې تګ ممکن شویدي او ورو ورو دکامیابۍ په لور قدمونه اخلي.

الف: په نړیوال سیاست کې خپل پټ او ښکاره رول لوبول او له هرې لارې چې وي د نړیوال سیاست واګې پخپل موټی کې نیول.

ب: د تلمودي حکم له مخې د اقتصاد کنټرول او سمبالول.

ج: د پروپاګنډ محاذ دیهودیت د مثبت رول لپاره استعمالول او د غیر یهودو منفي اخلاق دنډوره کول.

د: په عالمي مذاهبو کې تفرقه پیدا کول او ددوی ټوټه ټوټه کیدو او شکست ته هوا ورکول.

دیهودیت په مرام او منشور کې چې وړاندې ذکر شول، تر ټولو لومړی نړیوال سیاست پخپل لاس کې نیول شامل دي. په دې لړ کې یهودیانو دنړۍ په هر هیواد کې او هره خطه کې د خپل هدف د لاس ته راوړلو لپاره هر اړخیز کوښښونه کړي او کوي یې او تر ډېره حده د یهودیانو دغه کوښښونه یاد مستقیمي او یا د غیر مستقیمي لارې په کار لویدلي او ورځ په ورځ نوي نوي کامیابۍ حاصلوي. دبیلګې په ډول ویلی شو چې نن وخت د اسرائیلو په لاسونو د فلسطینیانو وژل او هم د فلسطین دځینو سیاسي تنظیمونو سره سمجوتې کول، په الجزایر کې دمسلمانانو وینې تویول او ذهني او جسمي اذیتونه، د سربیانو په لاس بوسنیایي مسلمانان تعذیبول او د هغوی دعصمتونو لوټول، د چیچنیا په آزاد هیواد روسي یلغار او د مسلمانانو عام قتلان، په کشمیر کې د هندي ظالمانو غاصبانه بربریت او په بې ګناه مسلمانانو دظلم انتهایي حد، د سومالیې دخپل منځي جنګ ناوړه حالات، د ترکیې د حکومت له خوا په کردانو ظالمانه تیرې د ایران او عراق زړه دردونکې جګړه او وروسته بیا د عراق لخوا په کویت دعراقي فوځیانو غیر قانوني او غیر اسلامي حملې، د افغانستان د څوارلس کلن جهاد نتیجې په خپل منځي جګړو له منځه وړل، د تسلیمه نسرین او سلمان رشدي غوندې ناپاکو خولو پذریعه داسلام په سپیڅلي حریم د پروپاګنډ تیرې او همدا رنګه په پاکستان کې د رحمت مسیح او سلامت مسیح لخوا د برحق رسالت توهین د یهودیت د مستقیمو او یا غیر مستقیمو سازشونو او تخریباتو کړې دي.

پخواني شوروي اتحاد د یهود یانو دهدف لومړنی تښه وه ځکه مخکې وویل شول چې د پروتوکول د رازونو چې لومړی په شوروي کې افشاء او د یهودو قتل عام شروع شو، اوس د شوروي اتحادي ځنځیر مخکې د ددوی له ښکاره د افغانستان دمقدس جهاد له امله په نظامي او جغرافیایي لحاظ مات شو نو یهودیت اوس په روسیه کې کومه خاصه دلچسپي نه ځرګندوي اوس دیهودیت د ښکار غشي د غرب د ځبر ځواك لور ته متوجه شوي دي او غواړي چې اوس لویدیز او یا د لویدیز اتحادي سمبول «ناټو» د اسلامي نړۍ په مقابل کې استعمال کړي. که د امریکا اوسني سیاسي او اقتصادي حالاتو ته وګورئ نو دا جوتیږي چې د یهودیت اثرات دامریکا په متحده ایالاتو کې تر کافي حده غزیدلی دي.

(ادامه لري)

د کولورا یا هیضې ناروغي

Cholora

لیک:لعل محمد افسوس

هیضه یا کولورا یوه حاده (Acut)یعنی ناڅاپي لګیدونکې ناروغي ده چې زیاتره د ګرمیو په وختونو کې په هغو ټولنو او هیوادونو چې د خلکو د ژوند سطحه ئې په اقتصادي لحاظ ټیټه وي او یاهغه هیوادونه چې د اوړي په موسم کې موسمي بارانونه زیات لري ډیره لیدل کیږي. دا ناروغي په Epe-demic (عام ډول)او کله کله په Indemic(خاص ډول) لګیږي. دا ناروغي په برما،پاکستان،هند،بنګله-دیش،تایلېنډ او د اسیا په ځینو سیمو کې د نورو ځایونو په پرتله زیاته پیدا کیږي،د صومالیې او روانډا هیوادونه چې د جنګي تباهئ له امله ئې د خلکو د ژوند صحي سطحې ډیرې کمزورې شوي دي د دې ناروغۍ له امله په څو وروستیو کلونو کې په زیاته اندازه ځبېښل شوي دي. د یو رپورټ تر مخې دا ناروغي ۱۹۰۷ میلادي کال په هند کې په ایپې ډمیك شکل خپره شوې وه چې په نتیجه کې ئې درې لکه او اویا زره(۳۷۰۰۰۰) انسانان له ژوند څخه محروم کړل.

د هیضې یا کولورا ناروغي د ویبریوانتروتوکسین(Vibio intrio Toxin) چې یو فلاجیل لرونکې متحرك ګرام منفي(G-VE) مایکرو ارګانیزم دی منځته راځي. دا مایکرو-ارګانیزم د (۳۷) درجې سانتي ګراد په تودوخۍ له منځه تللی شي مګر د کیمیاوي موادو په مقابل کې ډیر مقاوم دی او د انسان په بدن کې تر ډیره وخته پورې پاتې کیدی شي. د هیضې ناروغي په طبعي صورت سره د (VIBRIO) میکروب په وجه انسان ته لګیږي او بیا نورو انسانانو ته د ګنده او غیر صحي اوبو ،میوو ،سبزیجاتو او هغه خواړه چې د حفظ الصحې خیال ئې نه وي ساتل شوی انتقالیږي او همدارنګه هغه چاپیریال چې د حفظ الصحې په معیار برابر نه وي د دې ناروغۍ زیاتره امکانات پکې موجود وي .

دا ناروغي خصوصاً په هغو ټولنو کې زیاته لیدل کیږي چې د جنګ جګړو څخه جلاوطن په کمپونو کې ژوند کوي . ځیني ساینسي پوهان وائي هغه ټولنې چې غذائي سستم ئې غیر متوازن او کمینت ولري،دې ناروغۍ ته زمینه مساعده وي او د کولمو او معدې مزمنې ناروغۍ هم هیضې یا کولورا ته یوه بنه میدیا وي.

اعراض او علایم:

لکه څنګه چې مخکې وویل شول انسان د کولورا په ناروغۍ په ناڅاپي ډول اخته کیږي. لومړي انسان ته اوبلن اسهال(ناسته) پیدا شي او ګیډه درد لري، انسان د ناروغۍ په لومړیو مراحلو کې لږې لږې کانګې کوي، په عمومي ډول سره تبه لري، که د ترمامیټر (میزان الحراري) پواسطه د ناروغ د بدن تودوخې وکتل شي د خولې او تخرګونو حرارت به ئې یو څه ټیټ وي مګر د مقعد حرارت له خپل نورمال حالت څخه لوړ وي . ناروغي له څه وخت وروسته شدت پیداکوي او وروسته له (۲٤)ساعتونو ناروغ تقریباً له(۱۵ څخه تر ۲۰) لیترو مایعاتو ضیاع کوي، د کولورا د اسهال رنګ په لومړیو مرحلو کې زیړ صفراوي رنګ لري او له مکرر اسهال وروسته اوبلن یعنې د وریجو د اوبو غوندې بې بویه رنګ اختیاروي او کله کله وینه هم پکې لیدل کیږي، د ناروغ د پوستکي رنګ خاورینن سور معلومیږي که چیرې د ناروغ پوستکي ته په ګوتو فشار ورکړل

د تنظیم طلبه سلفیه دفتر د پیښور ته کونړ ته منتقل شو

د تنظیم طلبه سلفیه تنظیم چې د سلفي عقیدې د منهج پرچار کوي پدې وروستیو وختو کې د کونړونو د ولایت مرکز اسدآباد ته منتقل شو، دغه تنظیم د کلونو را هیسې په پیښور کې فعال وو او خپل اسلامي اهداف ئې سرته رسول .

د مجلي خبریال د رپوټ له مخې په هغې غونډه کې چې له دې امله د دې تنظیم د امیر عبدالکریم عبید په مشرۍ په اسعد آباد کې جوړه شوې وه د کنړونو د ولایت والي تورن جنرال غلام صادق اخونزاده مفصلې خبرې وکړې او د تنظیم طلبه سلفیه د کار په څرنګوالي ئې اوږدې خبرې وکړې او کونړ ته ئې ددې تنظیم انتقال یو ګټور اقدام وباله.

د کونړونو والي په خبرو کې په جهاد کې د شهیدجمیل الرحمن (رحمه الله) د ونډې او د کونړیانو د سربښندنې په هکله هم اوږدې خبرې وکړې او دجهاد د اهدافو د تحقق په کار کې ئې د تنظیم غړي ترغیب کړل.

د رپورټ مطابق په دې تاریخي غونډه کې د افغانستان او پاکستان څخه راغلو عالمانو، قوماندانانو او طالبانو ګډون درلود ،و ټولو په شریکه د قرآن او سنتو په رڼا کې د یو سراسري حکومت د جوړیدو په اصل ټینګار وکړ.

پدې پرتمینه غونډه کې مولوي عبدالغني، مولوي صدیق الله،مولوي عبدالغفور نصرتیار، مولوي محمد- افضل، مولوي حنیف الله او مولوي عبدالرزاق ویناوې وکړې د سیمې خلك ئې دعوت ته را وبلل او د اسلامي فیوضاتو په هکله ئې معلومات ورکړل.

دیو بل خبر له مخې د تنظیم طلبه سلفیه په مرکزي دفتر کې یوه بله غونډه هم وشوه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په چارو کې د دعوت په لارو چارو غور وشو او د کونړ په ولایت کې د یوې لوې اجتماع د جوړولو فیصله هم وشوه.

ستاسو پوښتنې د قرآن
او سنتو په رڼا کې

د پیښور دامام بخاری (رحمه الله) له پوهنتون څخه امین الله (محسن) ورور له مسنون سلام او احوال پوښتنلو وروسته پوښتنه کوي چې د سورت غاشیې له تمامولو وروسته «اللهم حاسبني حساباً یسیراً» کلمات ویل د امام لپاره لازم دي که د مقتدی؟

گرانه وروره امین الله محسن صاحبه! مسنون سلام ته مو د وعلیکم السلام وجیبه اداء کوو، د دعوت مجلې د خوښولو او احوال پوښتلو مو ډیره مننه!

وروره: ستاسې پوښتنه مو د امام محمد بن اسماعیل البخاري پوهنتون استاذانو حضور ته وړاندې کړه، هغوی یې په ځواب کې داسې لیکلي:

کله چې امام سورت غاشیه ختمه کړي، د «اللهم حاسبني حساباً یسیراً» کلمات ویل یوازې د امام لپاره جایز دي، نه د مقتدیانو لپاره. ځکه الله تعالی فرمایي: «وقوموا لله قانتین» بل ځای الله تعالی فرمایي: «وإذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون» (اعراف/٢٠٤) په دې دواړو ایتونو کې په انصات او قنوت باندې امر شوی دی او دا امر دلته د وجوب لپاره دي.

دسورت تین په آخر کې د «ألیس الله بأحکم الحاکمین» په ځواب کې «بلی و أنا علی ذلك من الشاهدین» کلمات ویل هم د امام لپاره جواز لري ا ود مأمون لپاره جایز نه دي ځکه ددې کلماتو په ویلو کوم صریح نص او د رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم قاطع دلیل وجود نلري.

همدا رنگه د سورت «أعلی» په اول کې د «سبح اسم ربك الأعلی» په ځواب کې د «سبحان ربي الأعلی» کلمات ویل هم د إمام لپاره جایز دي او د مقتدیانو لپاره یې د ویلو کوم قطعي دلیل ثبوت نه لري.

د حضرت عایشي رضي الله عنها نه روایت دی چې کله سورت «فتح» نازل شو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د «فسبح بحمد ربك» کلماتو په ځواب کې د «سبحان ربي العظیم» او «سبحان ربيّ الأعلی» کلمات وویل خو څرنگه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د لمانځه په حال کې ؤ نو دغه کلمات یې د رکوع او سجدې په حالتونو کې تطبیق کړل.

دحضرت عایشي رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د رکوع او سجدی په حالتونو کې د «سبحانك اللهم ربنا وبحمد اللهم أغفرلي» کلمات ویلي دي یعنې د الله تعالی د دې قول «فسبح بحمد ربك واستغفره إنه کان تواباً» (سورت نصر/٣) تاویل یې کړی دی. (متفق علیه) د پورتنیو کلماتو لوستل امام او مقتدي دواړو ته جایز بنودل شوي دی ځکه چې امام او مامون دواړه رکوع او سجده کوونکي او دواړه تسبیح او تحمید ویونکي دی. په دې دلیل نور قیاس نشي کیدلی ځکه چې دلته نص موجود دی او همدا د حدیث محتوا ده.

په صحیحو احادیثو کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سورة رحمن لوسته نو جناتو به ورته د «فبأي آلآء ربکما تکذبان» په ځواب کې «لانکذّب بنعمتك ربنا فلك الحمد» کلمات ویل خو په دې کې نبي کریم صلی الله د لمانځه په حالت کې نه بلکې د خطاب په حال کې ؤ. په یو بل روایت کې راغلي دي چې خوږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل چې پیریان ستاسو نه ښه جواب ورکوونکي دي.

له پورتنیو تحقیقاتو څخه معلومه شوه چې دغه ډول ځوابونه یوازې د امام لپاره جایز دي، که چیرې مقتدیان ځواب ورکوونکي شي نو د بدعاتو مرتکب کیږي او له صحیحو نصوصو څخه خلاف عمل دی.

دا هم ثابته ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به کله د وعید یا بشارت کوم آیتونه لوستل نو حمد، تسبیح او استغفار به یې ویل. دا پداسې حال کې چې پخپله به یې امامت کاوه او د لمانځه په حالت کې به ؤ. د لمانځه څخه خارج د هر چا لپاره جایز دی چې کله داسې ایتونه واوري او یایې ولولي دغه ځوابي کلمات ووایي، ځکه دا د سلفو صالحینو او محدثینو تعامل ؤ.

ستاسو لیك راورسید

دعوت مجله
P-O-Box-614
G-P-O-Peshawar-Pakestan

د مردان له تفهیم القرآن څخه یو طالب علم ابو سایر سمیع الله محسن ورور یو تفصیلي لیك راستولي دی. له مسنون سلام او احوال پوښتلو وروسته لیکي چي زما یو څو وړاندیزونه دي، هیله مندیم چي د دعوت مجلي له لاري ئي نشر کړي!

د افغانستان د جهاد موسس شهید مولوي جمیل الرحمن (رحمه الله) په لاس د اسلامي انقلاب اساس لومړي په کونړ کي ایښودل شوي دي او وروسته بیا دغه اسباب د افغانستان نورو ولایاتو ته منتقل شول، د بیلګي په توګه د جهاد دغه اسباب اوس هم په پنجشیرکي د احمدشاه مسعود سره موجود دي او احمدشاه مسعود وائي زمونږ سره چي شهید مولوي جمیل الرحمن د جهاد لپاره د کومو وسایلو مرسته کړي ده دا به د کابل په موزیم کي د نموني په توګه پراته وي. د دعوت مجله دي دا خبره د اسلامي دولت غوښونو ته ورسوي چي اوس د کونړ ولایت ته ولي خپل مکمل انقلابانه حق نه ورکول کیږي؟

بل په افغانستان کي هغه څوك د حکومت کولو حق لري چي په جهاد کي سهیم او برخه وال پاتي شوي وي او هغه چاچي د اروپا او امریکا سهل ژوند اختیار کړي،دوي حق نلري چي اوس د افغانستان په چارواکو کي سهیم شي. مشهور امام ابن تیمیه(رحمه الله)پخپل کتاب«السیاسة الشرعي» کي یوه جمله استعمال کړي ده«فان الولایة لهارکنان القوت ولامانه» دغه دواړه شرطونه د دوي سلب شوي دي ځکه د افغانستان حکومت د دوي سره یو امانت ؤ، دغه امانت دوي خیانت کړ، دوهم شرط ئي هم اوس ځکه متنفي دي چي یو حکومت مستقل قوت ته ضرورت لري او دغه هم د دوي په لاس کي نشته .

دریم دا چي د پاکستان یوي مشهوري ورځپاني «خبریں» په ۱۹۹۵/۸/۲۹م نیټه یو خبر خپور کړ چي د پاك افغان سرحد(۴۰)کیلومتره متنازعه سیمي لکه بروره،لعل پوره او کامه د پاکستان سره یو ځاي شوي او ...

پاکستان د سينټ يو غړي د دغو سيمو له خلکو سره د دوه کروړو روپو د مرستي اعلان هم وکړ.اميد دي چي دغه نظريات مي نشر ته وسپارئ.

گران وروړسميع الله محسن صاحب!سلامونو ته دي وعليك او احوال پوښتلو او دعاگانو ته دي ستاسي په شمول امين وايو او يو جهان مننه کوو!

ستاسو وړانديزونه او نظريات مو دا دي نشر کړل، البته مونږ به دومره ووايو دا يو حقيقت دي چي د افغان جهاد موسس د ټول افغانستان مجاهدينو سره د جهادي وسايلو مرستي پرته له تنظيمي توپيرونو کړي دي ځکه هغه تنظيم پرستي له شرك سره تشبه کوله نو يو له دي جملي څخه احمدشاه مسعود دي، احمدشاه مسعود پخپله د شهيد مولوي صاحب د جهادي مرستونه ډير متاثره دي او تر اوسه دغه احسان په سترگو کي لري . پاتي شوه د کونړ ولايت د حقوقو مسئله.نو وروره تر اوسه په مرکز کي يو اسلامي حکومت استقرار نه دي موندلي، که چيري اسلامي دولت په کابل کي مستقر شو چي د افغانستان د نورو ولاياتو څه حقوق وو، هغه به د کونړ هم وي.

بل تاسي چي د «خبري» ورځپاڼي د خبر په باب څه ليکلي دي، دغه خبر بيرته د پاکستان د حکومت لخوا رد شوي دي، مونږ بايد دومره اضافه کړو چي د متنازعه سيمو په هکله هله فيصله کيدي شي چي تر څو په افغانستان کي يو قانوني او منتخب حکومت نه وي جوړ شوي، په دي هکله اوس خبري کول له وخته مخکي دي او هيڅ کومه نتيجه نه ورکوي.

يوه تصحيح:

ددعوت قدرمنو لوستونکو! ددعوت مجلی په (٤٠) گڼه کی د «شرك او توحيد بنيادی جگړه» تر عنوان لاندی په (١٣) مخ منځنی کالم کی زمونږ څخه غلطي شويده يعنی هغه جمله «هغه څوك چی د قيامت د راتلو او قيامت د احوال علم لری هغه الله تعالی او د هغه پيغمبراݩ عليهم السلام دی». دا بايد داسی ولوستل شي: هغه څوك چی دقيامت د راتلو او قيامت د احوال علم لری، هغه يوازی الله تعالی دی او بس.

قلمي همکارانو ته د «دعوت» بلنه

د (دعوت) مجلي د خپل اسلامي او نشراتي پاليسۍ مطابق د نورو خپرونو په شان د ليکوالو په خدمت کي ده. محترم ليکوالان،شاعران او اديبان کولی شي چي په ديني، سياسي او اجتماعي برخو کي خپلي مقالي او آثار د مجلي د ليکني په نوم راوليږي. ممنون به ئي يو!

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

وعن عبدالله بن العاص رضي الله عنهما أنّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «أربع من كن فيه، كان منافقاً خالصاً ومن كانت فيه خصلةٌ منهن، كان فيه خصلة من النفاق حتى يدعها: إذا أؤتمِن خانَ، و إذا حَدَّث كذبَ و إذا عاهد غدَرَ و إذا خاصمَ فجر» (متفق عليه)

ترجمه: از عبدالله بن عمروبن عاص رضي الله عنهما روايت است كه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمود: چهار خصلت است كه هرگاه در كسي موجود باشند منافق خالص است، و آنكه در او خصلتى از اين خصلت ها باشد در او خصلتي از نفاق است، تا آنرا ترك كرده و بگذارد. چون امين شمرده شود خيانت كند، چون صحبت كند دروغ گويد، چون پيمان بندد پيمان شكني كندو چون دعوا كند دشنام دهد.

د استاد رباني د اقتدار په انتقال سره نور د جګړي عذر نه پاتي کيږي. (مولوي سميع الله نجيبي)

دولت هيڅ اراده نه لري چي د زور او فشار په وړاندي تسليم شي (استاد سياف)

د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة امیر مولوی سمیع الله «نجیبی» د حزب اسلامی مشر مولوی محمد یونس خالص، قاضی محمد امین وقاد، د اتحاد اسلامی مشر پروفیسر عبدالرب رسول سیاف، دفاع وزارت ویاند ډاکتر عبدالله او د سرحدونو د چارو وزیر صدیق چکری تورخم سره نژدی شمشاد کی د افغانستان د مسئلی د حل د لارو چارو په هکله تفصیلی خبری وکړی.

همدارنګه دغو مشرانو د ننګرهار د جهادی شوری او د هغه ولایت والی عبدالقدیر او د شوری له اعضاو سره هم ولیدل.

وروسته بیا د جماعة الدعوة امیر مولوی سمیع الله نجیبی د «دعوت» د مجلی خبریال ته د دغی غونډی په باب وویل: د کابل د حکومت له خوا د مذاکراتو لپاره جلال آباد ته هیئت رالیږل یو نیک اقدام دی او دی سره به د روانو جنګونو خاتمه وشی.

هغه زیاته کړه چی اوس استاد ربانی د قدرت د انتقال لپاره تیار دی او باید د قدرت د انتقال لپاره شخصیت وټاکل شی او پدغه کار کی باید ټول شامل طرفونه مرسته وکړی او د ضد او مقابلی خبری پریږدی.

هغه وویل چی استاد ربانی ددی اعلان سره چی د مجاهدینو یوی متفقه مرجع ته به اقتدار وسپاری خپله وظیفه سرته ورسوله، نو اوس په جهادی تنظیمونو پوری اړه لری چی په ګډه یو غوڅ تصمیم ونیسی.

ده زیاته کړه توکومه ځایه چی په جماعة الدعوة پوری اړه لری نو مونږ د تل لپاره د سولی ملاتړ کړی او همیشه مو د وسله والی مقابلی او مرګ ژوبلی مخالفت کړی. جماعة الدعوة د تل لپاره په هیواد کی د ثبات د ټینګښت لپاره دا غوره ګڼلی چی جهادی مشران یو بل ته نژدی او د مخالفتونو فاصلی لنډی کړی.

ده د جلال آباد روانی خبری اتری سودمندی وګڼلی او ټینګار ئی وکړ چی باید نهائی تصمیم د قرآن او سنت په رڼا کی ونیول شی.

همدارنګه د اتحاد اسلامی مشر پروفیسر عبدالرب رسول سیاف وویل زمونږ دغه خبری په دوستانه فضا کی تر سره شوی او طمعه ئی ښکاره کړه چی دا غونډه به له ځان سره نیکی خاطری ولری.

هغه وویل دولت د جنګ لاره د حل لاره نه بولی خو د هر تیری او تجاوز د مقابلی لپاره د مسئولیت په بناء چمتو او تیار دی. د کابل دولت د کابل له ښار څخه په ټینګه او میړانه دفاع کوی او هلته په حالاتو کنترول لری، هغه وویل زه دی ته اماده یم چی د یوی معقولی او شرعی لاری د پیدا کیدو په خاطر جهادی شخصیتونو، تنظیمونو او د مشرقی شوری سره خبری وکړم.

هغه زیاته کړه د دی مذاکراتو په نتیجه کی به دولت دا ثابته کړی چی هلته خوک د چوکۍ د ساتلو لپاره نه بلکی د افغانستان د جهادی حیثیت د بقا او تحفظ لپاره جنګیدلی دی او د افغانستان استقلال، ارضی تمامیت او ملی یووالی د یو اسلامی نظام تر سیوری لاندی مورد نظر دی.

ده وویل دولت د ملک د مصالحو او د ملت د نجات په خاطر پوره انعطاف او تعاون ته اماده دی.

وروسته د ننګرهار والی حاجی عبدالقدیر خپلی وینا کی وویل: زما په نظر د افغانستان د قضیئی د حل لپاره دی د قدرت صلاحیتونه یو عالم دین او غیر متنازعه شخصیت ته منتقل شی، نو په هغه صورت کی به مشرقی شوری له دولت سره پوره همکاری وکړی.

هغه خلک چې له شرایطو او حالاتو سره سازش او د اسلامي ارزښتونو په سر معامله کوي د سعادت او عزت څخه به محروم او د ذلت او شرمندګۍ ژوند به ئې په نصیب وي، مؤمن مسلمان باید د ایمان او یقین او د الله تعالی په نصرت باندې په اتکا، سره د تل لپاره د ټولو اجتماعي ناخوالیو په خلاف پرله پسې جهاد او مبارزه وکړي.

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له خطباتو څخه

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له خطباتو څخه

مؤمن مسلمان باید د ایمان او یقین او د الله تعالی په نصرت باندي په اتکاء سره د تل لپاره د ټولو اجتماعي ناخوالیو په خلاف پرله پسی جهاد او مبارزه وکړي.

د «دعوت» مجلې خبریال په کال ١٤١٠هجري قمري د رمضان په میاشت کې د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) سره مرکه کړی، د دعوت مجلی لازمه وګڼله چی دغه ارزښتناکه وینا یو ځل بیا ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړی.

نن سبا په افغانستان کی روان عمومی حالت د هر با درد او با احساس مسلمان لپاره د زیات تشویش او اندیښنی وړدی. یو طرفته که د افغانستان جهادی تنظیمونه په سیاسی ډګر کی د خپلی بی اتفاقی او خود خواهی په وجه خپل حیثیت او مقام ته صدمه رسولی او نړیوال ذهنیت ئی د دی مقدس جهاد په باب دومره مغشوش او ګډوډ کړی چی د روسانو له وتلو وروسته اوس په نړی کی دا انګازی خوری دی چی ګوندی افغانستان د کورنی جګړی په اور کی سوزی او نړی ورسره باید همدردی او خواخوږی ونه کړی مګر بل طرفته د جهاد د نظامی ډګر حال دا دی چی د روسی پوځونو له وتلو نه وړاندی عمومی اټکل داسی ؤ چی د روسانو وتل او په کابل کی د کمونیست رژیم سقوط او راپرزیدل ئی سره غوټه ګڼل او د کمونیست ګوند بقائی یوازی د روسی پوځونو په موجودیت کی ګڼله مګر د روسی پوځونو له وتلو وروسته دغه ټول اټکلونه خطا وختل او دا دی د یو کال نه زیات وخت تیرېږی چی د کابل ملحد او ظالم حکومت لاهماغسی د روسی مشاورینو تر قوماندی لاندی او د روس د نظامی او اقتصادی مرستی په اتکا د افغانستان په مظلوم اولس باندی د جبر او وحشت اسمان لاڅو نیزی نور هم رابنکته کړی دی او د ولایاتو په مرکزونو او لویو ښارونو باندی ئی منحوسی منګولی ښخی کړی دی او لا نور هم د وسعت طلبی لپاره هلی ځلی کوی.

بل طرفته د جهاد د مقدسی جګړی قوماندانان دی چی د جنګ جګړی په ډګر کی ئی په ډیر شهامت او میړانه د روسانو خوله په خاورو ډکه کړه او د شرموونکی ماتی او رسوائی سره ئی مخامخ کړل مګر د روسانو له وتلو وروسته ئی د جهاد په مقابل کی خپل اسلامی رسالت لکه څنګه چی ښائی نه دی ادا کړی بلکه ټول وخت په آزادو سیمو کی په حکومت کولو او د عشر او جریمو په راغونډولو تیروی او د جهاد د پرمختګ لپاره فکر نه کوی. د دی کار یوه وجه داده چی زمونږ زیات شمیر قوماندانان له اسلامی تعلیماتو نه بی برخی دی، هغوی داسی فکر کوی چی منطقه ئی آزاده ده نو په جهاد پسی ولی پښنی لوڅی کړی، دوی د جهاد د تداوم او استمرار لپاره اسلامی تعلیمات نه لری او د جهاد په اسلامی ارزښت پوره خبر نه دی .دغه وجه ده چی په آزادو سیموکی زیات کړکیچونه او شخصی تربګنی او دښمنی راپورته شوی او ټول کارونه بیله دی چی د مرکزی قوماندی او هدایت په اساس اجراء شی په خود سرانه او مطلق العنان ډول اجرا کیږی.

نن سبا د افغانستان په آزادو سیمو باندی د قبایلی قوانینو څادر خور دی نه د اسلامی عدل قانون.

د روسانو له وتلو وروسته په پاکستان کی موجود اوه تنظیمونه چی د خپل منځی افتراق او شقاق په وجه ئی د مقدس جهاد د سیاسی او نظامی مشکلاتو او بدبختیو اسباب

او موجبات برابر کړی دی، د پاکستان د حکومت تر نظارت او توجه لاندی سره راغونډ او د عبوری حکومت اعلان ئی وکړ. د مهاجرینو او مجاهدینو امید او آرزو داوه چی دا حکومت به زمونږ د ټولو مشکلاتو او بدبختیو د ازلی صلاحیت ولری او مقدس جهاد به د یوی واحدی قوماندی لاندی د خپل پرمختګ او ترقی پړاوونه ووهی او د عبوری حکومت مسئولین به ددی په ځای چی امریکا او آروپا ته سفرونه وکړی ، د جهاد د جګړی د سنګرونو قیادت به په خپل لاس کی واخلی او په دی ډول به د واحد اسلامی قیادت مسئولیت او فرایض د عمل په ډګر کی سر ته ورسوی او په ازادو سیمو کی به د اسلامی امارت او قیادت یو داسی نمونوی او موډل بنسټ کیږدی چی د ټول افغانستان په سطحه به د عمومی اسلامی قیادت د تشکیل لپاره پری د خلکو د امیدونو غوټی وغوړیږی اوداژادو سیمو مسلمانان به د اوسنیو بدبختیو شخه خلاص کړی ځکه لکه څنګه چی می وراندی ووېل نن په آزادو سیموکی نه د انصاف تامین شته نه د عدالت، نه احسان شته او نه رحم او عاطفه، نه امنیت شته او نه د غربت او فقر خاتمه.

خو په ډیر تاسف سره باید ووایم چی د موقت حکومت واکدارانو د مقدس جهاد او مجاهدینو ، دردیدلو مهاجرینو او د جهاد د جګړی د شهیدانو او د هغوی د کونډو او یتیمانو په وړاندی خپل ټول مسئولیت او فرایض د پاکستان او غربی نړیه تر منځ د بی فایدی صلاح مشورو، خارجی هیوادو ته له عیش نه ډکو سفرونو او یا د روافضو د ارضا په خاطر ایران ته په منهو رامنډو کی خلاصه کړل او یا دا چی د بی کاری په وخت کی سرحدی سیمو ته لاړ شی او خو تنه انګریزی او پاکستانی ژورنالستان او قلمبرداران دعوت کړی او د قلمبرداری په کیمرو کی خپلی خبری ثبت کړی او نړیه ته ځان وښائی چی ګوندی د عبوری حکومت غړی د افغانستان په داخل کی مصروف دی.

بل خوا ته ئی حکومتی تشکیلات زیات پراخ او په پیښور کی ئی د مدرنو او عصری دفترونو په جوړولو او د اوچتو معاشونو په ورکولو او نورو ګزافو مصارفو سره چی په عادی حالاتو کی هم د یو نوی جوړ شوی حکومت سره نه ښائی،

اکتفا وکړه او د شهیدانو د کونډو او یتیمانو او معذورو او معلولو مجاهدینو د ژوند د سمبنت او سمبالښت لپاره ئی هیڅ ډول پالیسی خپله نه کړه.

عبوری حکومت د غربی نړی او امریکا سره زیاتی صلا مشوری پیل کړی او د رافضینو د رضا لپاره ئی ایران ته منډی رامنډی ووهلی. ددی کار معنی داده چی د افغانستان مساله د سیاسی لاری حل وفصل شی او جهاد باید له یاده وباسو او یا دا چی مساله له اوله نه د سیاسی روغی جوړی له لاری حل شوی وائی او جهادی لاره باید نه وائی اختیار شوی، بلکه که په صراحت ووایو د عبوری حکومت سیاست داسی ښکاره کوی چی ګوندی د افغانستان مومن او مجاهد ولس په خپل دولس کلن جهاد باندی ستړی او پښیمانه دی.دا حکومت سره له دی چی د افغانستان په یوه لویشت ځمکه کی هم د حالاتو د سمبنت او د جهاد د قوت صلاحیت او اهلیت نه لری خو بیا هم ځان د افغانستان د سرنوشت ټاکلو واکدار ګنی او د هیڅ ولایت خلکو ته دا حق نه ورکوی چی د خپل حیاتی ضرورت او شرعی مسئولیت په خاطر سره یو موټی شی، په خپل ولایت کی د مجاهدینو واحده اداره جوړه کړی او امنیت تامین کړی او د جهاد د پیاوړتیا له پاره قدم پورته کړی.کله چی مجاهدینو او د جهاد خیر خواهانو د جهاد په ګټه او د خلکو د روا حقوقو د اعادی او په سیمه کی د امنیت د تامین او ټینګښت لپاره ګام پورته کړی، عبوری حکومت ئی د لاری خنډ شوی او د لالچونو او دسیسو له لاری ئی د اصلاحی پروګرامونو د تطبیق مخه نیولی ده چی ددی خبری ډیر ښه مثال د کونړ ولایت وه چی هر چاته ډیره ښه ښکاره او په حقیقت ئی هر څوک ښه خبر دی او همدغه غلط سیاست او پالیسی وه چی افغانستان کی د پخوانیو بدبختیو سره د نورو زیاتو مصیبتونو او کړاوونو دروازی هم خلاصی کړی.

عبوری حکومت باید د نورو ولایاتو حالات که د جهادی لاری ئی له وسی پوره وه او که د سیاسی لاری ئی توان درلود، په خپل کنټرول که راوستی وی وروسته به د کونړ د ولایت په مساله خبری شوی وائی .مګر د دسیسو او لالچونو له لاری د مجاهدینو ترمنځ بی اتفاقی اچول او په یو آزاد ولایت کی چی

میرنیو خلکو ئی یولس کاله د روسی وحشت او ظلم سره په شهامت او میړانه مبارزه وکړه، د امنیت د ټینګښت پروسه تخریبول د اسلامی پرنسیپونو او اصولو منافی دی.

دوی باید په غور او دقت سره مسایل تحلیل کړی، دمسالی هر جهت چی د اصلاح وړ وی هغه اصلاح کړی او د نورو جهتونو د اصلاح لپاره کوشش وکړی نه دا چی وواټی تولی مسالی حل نه شوی، نو راځئ چی اصلاح شوی مسالی هم تخریب کړو.

زمونږ په نظر دغه ډول پالیسی د هیڅ په ګټه نه ده بلکه غیر له تخریب نه تری د هیڅ ډول تعمیر او اصلاح امید نشی کیدی.

د دغو ترخو حقایقو بیان هیڅکله هم دا معنی نه لری چی ګنی مونږ د دغو حالتو په وړاندی بی تفاوته یو او یا مو زغره اغوستی وی... او د ګوشه نشینی او انزوا په عالم کی د نتایجو او عواقبو انتظار وباسو بلکه حقیقت دا دی هغه خلك چی له شرایطو او حالاتو سره سازش او د اسلامی آرزښتونو په سر معامله کوی د سعادت او عزت څخه به محروم او د ذلت او شرمندګی ژوند به ئی په نصیب وی .مومن مسلمان باید د ایمان او یقین او د الله تعالی په نصرت باندی په اتکا سره د تل لپاره د ټولو اجتماعی ناخوالیو په خلاف پرله پسی جهاد او مبارزه وکړی او د شرایطو ارابه د حق او حقیقت په ګټه وڅرخوی.په دغه لار کی باید نا امیدی او حسرت ته په زړه کی ځای ورنه کړی ځکه نا امیدی د کافرانو شیوه ده.الله تعالی فرمائی:

انه لاتیس من رحمة الله الا القوم الکفرون.

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة مشر محترم مولوی جمیل الرحمن، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د مرستو د انسجام د امر صدرالدین اغا خان د هغه وینا په باب چی نوموړی څو ورځی وړاندی په واشنګټن کی د جورج تون د پوهنتون د بین المللی ستراتیژیکو مطالعاتو په مرکز کی د افغانستان د قضیی په باب وکړه، د دعوت خبریال ته په مرکه کی وویل:

د دغه ډول بیاناتو اوریدل د اغا خان له خولی نه چی دی او کوونی ئی د اسلام او افغانستان سره د نه پخلا کیدونکی دښمنی اوږد تاریخ لری، څه د تعجب او حیرانتیا خبره نه ده. یوازی دا نه چی د اغاخان خبری د اسلام او جهاد په پاك حریم باندی حمله او تیری دی، بلکه په افغانستان کی «د مرستو د انسجام» په نوم د هغه فعالیت هم زمونږ په اسلامی هیواد کی د اسماعلیت او لادینیت د پراختیا لپاره د هغه مذموم کوښښ دی. اغا خان او د هغه دارو دسته غواړی چی د جهاد دغه تاتوبی یعنی افغانستان داسی تجزیه او تقسیم شی چی بیا تری د الله اکبر غږ پورته نشی او په زیاته برخه باندی ئی د اسماعلیت توره پردهوغوریږی او د روسی اشتراکیت او الحاد په ځای په کی د اسماعلیت قانون نافذ او تطبیق شی. دا په حقیقت کی د روس د انتقام جوئی نوی نقشه ده چی غواړی د اغاخان په وسیله د افغانستان د مجاهد ملت جهادی تاریخ مسخ کړی . خو اغا خان یا دهغه یاداران چی د اسلام او افغانستان په باب ناوړه نیتونه او شومی ارزوګانی په سرکی روزی باید په دی وپوهیږی چی د افغانستان مجاهد ملت لکه څنګه چی ئی د روسی اشتراکیت او الحاد په خلاف مبارزه وکړه او د افغانستان د هری لویشتی ځمکی نه ئی په سر او مال دفاع وکړه او پری ئی نه ښودل چی د دی اسلامی هیواد په یو ګوټ کی هم پردی تیری کوونکی پښه ټینګه کړی، دغه شان به د اسماعلیت او رافضیت په خلاف هم جهاد او قتال وکړی . دا مومن ملت په خپل هیواد کی د توحید د عقیدی په بنسټ د ولاړ اسلامی نظام د ټینګښت نه غیر د خپل جهاد وسله په ځمکه ایښودل نه بخښونکی جرم ګڼی.

د افغانستان د تقسیم او تجزئی په باب د اغاخان نظر زمونږ د هیواد د ازادی،او اسلامی حیثیت او تشخص په خلاف د هغه د ناوړه شیطانی نیت زیږنده ده خو مونږ اخطار ورکوو چی که اغاخان د خپل ناوړه نیت او شیطانی پلان نه لاس وانخلی او خپل بیانات تلافی نه کړی مونږ به په ټولو ازادو سیمو کی د نوموړی پروګرامونه په هر شکل او بڼه چی وی په ټپه ودروو.

# #

صديقي چکړی د «دعوت» سره په مرکه کی:

د سرحدونو چارو وزارت قومي عالي شورا جوړوي افغانانو پښتيلی ده خپل برخليک په خپله وټاکی

د جهادی قوماندانانو، مسؤلينو او د نظر د خاوندانو سره د مرکو په لړ کی دا ځلی د دعوت د مجلی خبريال په کابل کی د سرحدونو د چارو د سرپرست وزير ښاغلی صديق چکړی سره ددی وزارت د نوو اقداماتو او موجوده سياسی صورت حال په اړوند يوه لنډه مرکه کړی ده چی په لاندی متن سره وړاندی کيږی.

(په کابل کی د مجلی خبريال)

پوښتنه: دا وخت د افغانستان د اسلامي دولت د سرحداتو چارو وزارت په کومو فعاليتونو بوخت دی او د قومونو او ورونو مليتونو يووالی په لړ کی ئی کوم اقدامات تر لاس لاندی نيولی دی؟

ځواب: هماغسي چی ددی وزارت د نوم نه څرګنديږی زمونږ اکثره فعاليتونه په قومی، ټولنيزو او سياسی فعاليتونو متمرکز دی له همدي امله مونږ د خپل مطروحه کلنی پلان په اساس د وزارت وظايف او مکلفيتونه بی له ځنډه په دوامداره توګه سرته رسوو.

مونږ د قومونو او قبايلو تر مينځ د يووالی په انساني او اسلامي کار بوخت يو او کوښښ روان دی چی د قومونو، قبايلو او ورونو مليتونو او اسلامي دولت تر مينځ د تل دپاره اړيکي ټينګی او صميمانه وساتو.

مونږ هڅه کوو ددی هدف د ترلاسه کولو دپاره داسی شرايط برابر کړو چی د افغانستان ټول قومونه او ورونه ملتونه د اسلامي اصولو په چوکاټ کی د ملی يووالی او وروروګلوۍ په فضا کی ژوند وکړی.

د هغو هدفمندو اقداماتو په لړ کی چی د سرحدونو د وزارت د مشر تابه هيئت همدا اوس د لاس لاندی نيولی دی هغه دا دی چی مونږ غواړو د يوي قومی عالی شورا په جوړولو سره د قومونو او قبايلو تر مينځ پيوستون تامين کړو.

همدا رنګه ددی شورا جوړيدو پسی جوخت د هزاره مليت د انسجام د شورا په جوړيدو پلان هم ددی وزارت د راتلونکی کار په اجنډا کی شامل دی.

پوښتنه: د سرحدونو وزارت ددی د پاره چی خپل غږ د قومونو او قبايلو غوږ ته ورسوی د علمي او فرهنګی ساحي لوری څنګه عيار شوی دی او څنګه کولی شئ د قومونو د يووالی د پاره مطلوب پلانونه طرحه کړئ؟

جواب: هماغسي چی د ډير پخوا د سرحدونو چارو وزارت د خپل قومی او ټولنيز فعاليت تر څنګ علمی او فرهنګی فعاليتونه درلود اوس ئی هم لری.

همدا اوس ددی وزارت، علمي نشراتي او تبليغاتي ارګانونه فعال دی چی ددی جملی څخه کولی شو د جرګی د مجلي نوم واخلو دغه مجله چی د لوړ تيراژ سره په مياشت کی يو ځلی چاپيږی د هيواد په داخل او خارج کی لوستونکو او مينه والو ته رسيږی او ددی وزارت دټولو فعاليتونو او مشکلاتو نه پکی معلومات تر لاسه کيږی.

په فرهنګي برخه کی بايدووايو چی ددی وزارت په چوکاټ کي د خوشحال خان ليسه فعاله ده او په پوره کميت سره قبايلی ځوانان او د بيلابيلو قومونوپوری مربوط زده کونکی پکی زده کړه کوی. که څه هم ددی ليسی ودانۍ په تيرو دری کلنو جنګونو کی ويجاړه شوی ده خو اوس

ددی امکانات پیدا شوی دی او لکه د کابل د نورو ښوونځیو په شان په دی لیسه کی هم د زده کړی نورمال بهیر پیل شویدی.

پوښتنه: د اطلاعاتو له مخی تاسو د اسلامي دولت په نمایندګۍ د طالبانو دړلی سره یو لړ خبری کړی دی تر اوسه پوری څومره دجنګ اسیران متبادله شوی دی او د خبرو راتلونکی نتائج څنګه څېرئ؟

ځواب: دا صیح خبره ده چی ما یوه موده دافغانستان اسلامي دولت له لوری د طالبانو دړلی سره د خبرو او مخامخ مذاکری لړۍ ساتده ساتلې وه او په خپل وخت خبری ګټوري هم وی او امید دی چی ټول هغه ځواکونه چی په افغانستان کی د اسلامي حکومت استحکام غواړی د اسلامي دولت سره د خبرو د لاری مسئلی حل کړی او ددولت دنیك نیت نه سئه استفاده وکړی دا چی په راتلونکی وخت کی به د طالبانو او اسلامي دولت ترمنځ د خبرو انتها څه وی اوس په قاطعت سره نشم څېړلی خو د مذاکراتو په خپل وخت کی ددواړو خواو جنګی اسیران خوشی کړی شوی دی او دا وخت ددولت سره د طالبانو کوم بندی نه دی پاتی.

ددولت او طالبانو تر منځ د مذاکراتو دروازی لانه دی تړلی شوی او مونږ باور لرو چی د صالحو مصلحینو په مرسته به د صلحي، هیواد او خلکو په ګټه ښی نتیجي ورکړی.

پوښتنه: داسی آوازی خپری شوی دی چی ګني طالبانو او ددوستم ځواکونه د یو ځای کیدو نیت لری که چیری دغه عمیله په ریښتیا سره تحقق ومومی ستاسو عکس العمل به څه وی؟

ځواب: مونږ هم څه موده پخوا د نړۍ د راډیو ګانو څخه اوریدلی چی دوستم غواړی دطالبانو سره ددولت په ضد ایتلاف وکړی او په دی لړ کی خبری هم وشوی خو حقیقت دا دی چی دوستم د ملیشو هغه قوماندان دی چي زیات وخت ئي د کمونستانو په څنګ کی زمونږ د مجاهدملت په مقابله کی زیات جنایتونه کړی دی ځکه نو مونږ طالبانو ورونو ته دا مشوره ورکوو چی نه باید د یو ملحد او جنایت کار سره د ایتلاف او یو ځای کیدو په مقصد خبری وشی.

اوس دوستم غواړی د خپلو جنایاتو د پټولو د پاره د طالبانو د چتر لاندی خپل شوم اهداف تر لاسه کړی او د یو دوامدار جنګ د پاره زمینه لا پسی برابره کړی.

پوښتنه: پاکستان ته پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه د خاص نماینده سردار عبدالولی په راتګ سره په افغانانو کی یو لړ مثبت او منفي تحرکات پیل شوی دی ستاسو په نظر په اوسني وخت کی د پخوانی پاچا نقش څنګه څېرئ؟

ځواب: تر ټولو د مخه باید ووایم چی پر دی او ګاونډیان د یو کور او ټولني په مشکلاتو دومره نه پوهیږی لکه د کور غړی ځکه نو مونږ په دی عقیده یو چی که افغانان د خپل قوم مشکلات خپله حل نکړی بل څوك ئی نشي حل کولی.

دا چی اوس د پخوانی پاچا یا د هغی د استازي مسئله طرحه کیږی مونږ باید هغه وختونه خپل مجاهد ملت ته وریاد کړو چی افغان مجاهد ولس د سره استعمار په خونړیو منګولو کی شپی ورځی تیرولی او د خپل موجودیت او آزادۍ د پاره ئی وسلوال جهاد کولو او د امتحان عملی میدان ته راوتلی وو او بی مثاله قربانۍ ئی هم ورکړي.

ایا هغه وخت د مساعدت او فریاد رسۍ وخت نه وو؟ اوس ملت دا پوښتنه کوی چی کوم وخت مونږ د کمونستی استعمار د ظلم او استبداد تر متروکی لاندی پراته وو کاشکی پخوانی پاچا هغه وخت د روسي سامراج د ظلم په خلاف آواز اوچت کړی وائی.

اوس زمونږ مجاهد ملت وائي چی پخوانی پاچا بایدوطن تاریخ یو وار بیا وڅیړی او د پردیو د لاس اله او وسیله ونه ګرځی ځکه چي د افغانستان ټولو وګړو دا پټیلی ده چي خپل بر خلیك د پردو له رائي، رهنمائی او شیطانت څخه پرته وټاکی او خپل مقدرات په خپل لاس کی واخلي همدغه د افغانانو عنعنوی روایات او اسلامي کرنلاره ده چی باید هغه تعقیب او عملی کړی.

ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الآيه

دعوت

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن و السنة د افکارو خپرونکې
د توحید او جهاد مجله

۱٤ گڼه

د استاد رباني د اقتدار په انتقال سره نور د جګړې عذر نه پاتې کيږي . (مولوي سميع الله)

د اروپا په زړه کې يو خيلواکه اسلامي هيواد (بوسنيا)

د افغانستان استقلال، ارضي تماميت او ملي يووالي د يو اسلامی نظام تر سيوري لاندې مورد نظر دی. (استاد سياف)

زما په نظر د افغانستان د قضئې د حل لپاره دی د قدرت صلاحيتونه يو عالم دين او غير متنازعه شخصيت ته منتقل شي. (حاجي عبدالقدير)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

الهی فرمان

قال الله تعالى

«فَإِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ فَاعْلَمْ إِنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ أَهْوَاءهُمْ * وَ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوائَهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ * إِنَّ اللّٰهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِيْنَ»
(سورة القصص/ ٥٠)

ترجمه: پس که چیری ونه منله دوی خبره ستا پس پوه شه چی بیشکه هم دا خبره ده، چی متابعت کوی دوی د خواهشونو خپلو (بي دليله) او څوك دی ډير گمراه له هغه چا چی متابعت کوی د خواهش خپل بي هدايته له ښوولو د لاری له (طرفه د) بیشکه چی اللّٰه نه ښيي سمه لاره قوم ظالمانو ته (چی تابع وی د نفسونو او هواؤ خپلو بی دليله).

د دعوت پیغام

السلام عليكم ورحمة الله و بركاته

«أُدْعُ إِلىٰ سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَ جَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهِ وَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ» (سورة النحل-١٢٤)

* د اسلام مقدس دين صرف د عباداتو نوم نه بلکی د انسانی ټولنی د هر اړخيزی اصلاح په غرض يو اکمل الهی دين دی، چی د ژوندانه ټول اړخونه سنبالوی.

د دی لپاره چی انسانی او خصوصاً په اسلامی ټولنه کی کمزورتیاوی ختمی شی او په معنوی توگه خپل تکاملی پړاو تر سره کړی او انسان خپل اصلی انسانی معيار ته ورسوی د هر مسئوليت پيژندونکی مسلمان دنده او وجيبه ده چی خلکو ته د نيکيو بلنه ورکړی او له بديو څخه ئی راوگرځوی، که چيری داسی ونه شی مسلمانه ټولنه به د ډول ډول ستونزو سره لاس او گريوان وی، لکه نن چی مونږ د نړی د مسلمانانو ستونزی او د بدبختيو نښی نښانی د سر په سترگو وينو.

نو بايد هڅه وکړو چی د يو ريښتنی مسلمان په صفت د دعوت الی الله خپرولو ته ځان چمتو کړو تر څو د موجوده بدبختيو مخه ونيول شی.